UMAR MEDIA





- د شهید طالب حق
مولوي فضل الله خراساني تقبله الله
ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه
- شاعري، ترنم او جهاد
- مجاهده پښتنه

http://t.me/TTPmagazine http://www.umarmedia.bz





@umarmedia

فهرست

1 د پاکســتان د حکومتي چارواکو او ظالمو پوځونو په اړه د تحریک طالبان پاکستان موقف
(سرلیکنه)

2 د شــهید طالب حق مولوي فضل اللّه خراساني تقبله اللّٰه ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه
لیکوال: سیف اللّه احرار

3 خارجـــي او افراطي فکر او جهادي تحریکات لومړۍ برخه
لیکوال: مولوي احمد جان

4 مجاهده پښتنه
د ســوات له رنګینیو د خیبر تر درو د یوې مؤمنې مهاجرې پښتنې خور د هجرت ریښتونی حماسي داستان

5 په جهاد کې د ګډون او شــریکېدو طریقې او شرعي حل لاره لومړۍ برخه ژباړه: ابو قتاده
لیکوال: الشیخ انور العلوقي رحمه اللّه

6 د انقلاب بابا
لیکوال: هاشم سادات

7 په جهاد کې د ګډون او شــریکېدو طریقې او شرعي حل لاره لومړۍ برخه ژباړه: ابو قتاده
لیکوال: عاصم سعید لاهوري

8 د جمهوریت او ډیموکراسۍ پنځلس غیر اسلامي اصول او اساسات
لیکوال: عمار احرار

9 د استشهاد له منارو د دیدار تر تلوسو!
لیکوال: سیف الدین هلال

10 شاعري، ترنم او جهاد
لیکوال: عاصم عمر حقاني

11 ســپین ستوري شهید احمد اللّه "خالد" تقبله اللّه
لیکوال: طلحه مزمل

12 د روان ۲۰۲۳م کال د جولایي (ذوالحجې – محرم الحرام) په میاشت کې
د تحریک طالبان پاکستان د بریدونو تفصیلي راپور

سرلیکنه

د پاکستان د حکومتي چارواکو او ظالمو پوځونو په اړه د تحریک طالبان پاکستان موقف

زمونږ په آند د پاکستاني حکومت چاروواکو ته د امام عادل حیثیت ورکول قطعاً غلط دي، ځکه دوی د اسلامي نړۍ او کفر ترمنځ په روان جنګ کې د دهشت کردۍ د ختمولو په نوم د نړیوالو ترورېستانو (امریکا او ناټو) ملګرتیا وکړه او لا هم لګیا دي کوي یې.

د افغان مسلمان ملت او عراقي مسلمانانو په خلاف یې د امریکایي اشغال ملتیا وکړه.

امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه اللّٰه یې د امریکا د کتو لپاره شهید کړ.

د ټولو سفارتي او اسلامي اصول تر پښو لاندې کولو سره د اسلامي امارت سفیر ملا عبد السلام ضعیف په ډېرې بې عزتۍ سره امریکا ته وسپاره.

د امریکا د خوشحالولو لپاره یې د اسلامي امارت مخکینی وزیر دفاع الحاج ملا عبید اللّٰه اخوند اسیر کړو او په شهادت یې ورساوو.

د افغان جهاد ستر رهنما، د اسلامي امت ستر داعي او مبارز الحاج محمد استاد یاسر یې له څو کلونو را هیسې ورک کړی دی.

د اسلامي امارت په خلاف یې امریکا ته هوائي، ځمکني او سمندري لارې او اډې ورکړی، د هغوی لوجستیکي مرستې یې وکړې، د پاکستان د خاورې څخه یې پر مظلومو افغانانو باندې ۵۷ زره هوایي بریدونه ترسره کړل.

چې په ترڅ کې یې د هاغه وخت د نړۍ یوازینی اسلامي نظام سقوط او په لکهاوو مسلمانان شهیدان شول.

له شپږسوو څخه ډېر عرب مهاجر مجاهدین یې د څو ډالرو په بدل کې وپلورل.

د قوم لور ډاکټر عافیه صدیقي یې په ښکاره توګه په امریکا خرڅه او دا تور داغ یې د پاکستان په مظلوم مسلمان ولس پورې سرېښ کړ.

له دوارو خواوو څخه د مجاهدینو د لارو د بندلو لپاره یې په سرحد باندې د امریکا په خوښه او غوښتنه په لکهاوو پوځ مؤظف کړ، تر څو د فرض عین جهاد مخه ونیسي.

د امریکا په حکم، ملاتړ او غوښتنه یې په خپل مظلوم مسلمان ولس باندې له المیزان څخه واخله تر رد الفساد پورې کڼ شمېر عملیات او آپریشنونه ترسره کړل.

د پاکستاني حکومت د ظالمو او کفري پالیسیو مخالفت کونکی د جامعه فریدیې مهتمم او د لال مسجد خطیب مولوي عبد اللّٰه صاحب، مفتي نظام الدین شامزئي صاحب، شهید اسلام مولانا محمد یوسف لدهیانوي صاحب، شیخ ولي اللّٰه کابلګرامي صاحب، غازي عبدالرشید صاحب، شیخ نصیب خان صاحب، مولانا سمیع الحق صاحب او همدا راز د ډاکټر عادل خان صاحب په څېر په لسهاوو علماء کرام یې په شهادت ورسول.

د خپل قوم باحیاء انجونې او د جامعه حفصه معصومې طالبانې یې په فاسفورس بمونو لولپه کړی.

په قبائلو کې یې په سلهاوو د قرآن کریم نسخې په شهادت ورسولی.

په سلهاوو دیني مدرسې، مسجدونه او مقدس ځایونه یې ویجاړ کړل.

د قبایلو په لکهاوو مسلمانان یې له خپلو کورونو څخه بې کوره او د آئي ډي پیز (بې کوره وګړو) په نوموونو ونومول.

داسې قوانین یې عملي کړل، چې له امله یې په کران هېواد کې فحاشۍ او عریانۍ ته لار خلاصه شوه.

د ټرانس جینډر بل، میراثن ریس او زنا بالرضا حوصله افزایي یې ښکاره مثالونه دي.

د اللّٰه تعالی او د هغه د رسول صلی اللّٰه علیه وسلم په خلاف حکم کوونکو ته په قرآن کریم کې طاغوت ویل شوي دي، او د طاغوت اطاعت حرام دی، د انګرېزي قانون تر چتر لاندې د شرعي خلاف حکم کوونکی که تش په نوم مسلمان وي یا غیر مسلم او کافر، طاغوت دی، په اولی الامر کې په هېڅ ډول نه دي داخل.

د شهید طالب حق مولوي فضل الّٰله خراساني تقبله اللّٰه ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

لیکوال: سیف اللّٰه احرار



زوکړه او نشأت:

شهید مولوي فضل اللّٰه خراساني تقبله اللّٰه د بلادر خان زوی، د حسن خان لمسی، د ۱۹۷۵م کال د مارچ میاشتې په لومړۍ نېټه د کوزې پښتونخوا د سوات ضلعې (ولسوالۍ) د کبل سیمې د امام ډېرۍ په کلي کې یې دې فاني نړۍ ته یې سترګې وغړولې.

زده کړه او تعلیم:

عصري علوم: د عصري علومو پیل یې د خپل کلي په ښوونځي کې وکړ، او تر پنځم ټولګي پورې زده کړې یې د خپل کلي «امام ډېرۍ» په همدې ښوونځي کې ترسره کړې، له شپږم ټولګي څخه تر لسم ټولګي پورې زده کړې یې بیا د امام ډېرۍ په عمومي دولتي ښوونځي کې ترسره کړې، له هغه وروسته یې تر دولسم صنف پورې خپله تعلیمي دوره د سیدو بابا سیمې د جهانزیب کالج (لیسې) کې په بریالیتوب سره پای ته ورسوله.

دیني تعلیم: د قرآن کریم ترجمه، مختصر تفسیر او ابتدایي کتابونه یې د خپل کلي له ملا امام مولوي شیر علي صاحب څخه ولوستل، په ۱۹۹۲م کال چې کله په سوات کې د مولانا صوفي محمد رحمه اللّٰه له لوري د «تحریک نفاذ شریعت محمدي» تر نوم لاندې د اسلامي نظام د نفاذ په پار یو اسلامي تحریک رامنځته شو، نو د شهید مولوي فضل اللّٰه خراساني تقبله اللّٰه پلار (چې ډېر زیات دینداره، مخلصه او ریښتونی شخصیت و) خوب ولید، داسې چې: یو سړی په یوې لویې جلسې کې خلکو ته وینا کوي او په لاس کې یې ګونګټان (کوخی) وي، هر هغه څوک چې یې د خبرو مخالفت کوي دغه ګونګټان (کوخی) ورځي او هغه چیچي، په سبا ورځ د مولوي صوفي محمد رحمه اللّٰه جلسه وه، نو پدغه جلسه کې چې کله د امیر صیب محترم رحمه اللّٰه پلار د شریعت د نفاذ او اسلامي نظام د قیام نعره واورېده، نو سمدستي یې پدې تحریک کې ګډون وکړ، چې له همدې ځایه له نوموړي رحمه اللّٰه سره هم د اسلامي نظام د قیام رښتیني جذبه پیدا او دغه سپین سپیڅلی ارمان یې په زړه کې ورسره مل شو.

په ۱۹۹۴م کال چې کله د سوات په هوایي میدان کې د پاکستاني پوځیانو او د یاد تحریک د کار کوونکو ترمنځ نښته را منځته شوه، نوموړی رحمه اللّٰه هم پدې نښته کې شامل و، او په یاده معرکه کې یې هم خپل شجاعت او زړورتیا په ډېرې قهرمانۍ سره وښودله، له دې پیښې وروسته د نوموړي رحمه اللّٰه په زړه کې د جهاد او قتال شوق او جذبه لا زیاته او ګړندۍ شوه، له قرآن کریم سره بې کچې میني او

محبت نوموړي رحمه اللّه ته د نبوي سنتو د بيا را ژوندي کولو او په خپله په اسلامي ټولنه کې د بدعاتو، خرافاتو او شرکياتو د ختمولو يو عجيبه جذبه او احساس ور وبښولو، هماغه و چې په ۱۹۹۵م کال کې يې د خپل کلي له امام سره هم په څو غير شرعي رائجو رسمونو او رواجونو مختصره مناظره وکړه، او په ښکاره توګه يې د داسې ناوړو او غير مشروع رواجونو مخالفت وکړ. له دې علمي مجلس څخه وروسته نوموړي رحمه اللّه په زړه کې د دې کار پخه اراده وکړه چې له کوم جيد او راسخې عقيدې لرونکي عالم څخه د قرآن کريم ترجمه او تفسير زده کړي، له همدې امله يې خپل پلار مرحوم ته خپل دا عظيم او مبارک غوښتنه د مشورې په پار واوروله، د نوموړي رحمه اللّه پلار د خپل عادت مطابق استخاره وکړه.

د پلار مرحوم خوب يې:

د نوموړي رحمه اللّه پلار مرحوم چې کله له خوب څخه را پاڅېد، نو سمدستي يې نوموړی ور وغوښت او ورته زياته يې کړه: چې ما ته په خوب کې يو چا وويل چې ته د دنيا غوښتوونکی يې او که د جنت؟؟ که د جنت غوښتوونکی يې نو هغه فلانکي ته يې ور ولېږه، هماغه وو چې نوموړی رحمه اللّه هم د ديني علم د ترلاسه کولو په پار د ډير کمبړ سيمې د مشهور عالم مولوي صوفي محمد رحمه اللّه مدرسې دار العلوم ته ولاړ، په مدرسه کې له څو ورځو تېرولو وروسته د نوموړي رحمه اللّه له غوره چلند او اخلاقو څخه چې د مدرسې استاذان او طالبان ډېر زيات متأثر شول نو مولوي صوفي محمد رحمه اللّه هم نوموړی د خپلې مدرسې د نګران په توګه وټاکه.

د تعليمي دورې په جريان کې د نوموړي رحمه اللّه ځانګړې حيثيت:



په تعليمي دوره کې هم نوموړی رحمه اللّه نورو طالبانو په مينځ کې د يوه ځانګړي حيثيت، شان او جلال څښتن و، د استادانو خدمت د نوموړي رحمه اللّه ځانګړی صفت و، د استادانو له خدمت سره سره به يې په ټول توان او طاقت سره د طالبانو خدمت هم کاوه، د نوموړي رحمه اللّه د مدرسې يو نږدې ملګری د نوموړي رحمه اللّه په اړه داسې وايي: زمونږ په مدرسه کې يو طالب العلم چې په دواړو سترګوړوند و، او لاسونه يې هم معذور وو، شهيد مولوي فضل اللّه خراساني رحمه اللّه به په ډېره پټه توګه هغه ته په خپلو لاسونو ډوډۍ ورکوله، او د هغه ټول خدمت به يې کاوه او ټول ضرورتونه به يې ورته پوره کول.

نوموړي رحمه اللّه ته د خالق ذات له لوري د ورکړل شويو صفتونو تقوی او پرهيزګارۍ له وجې به مولوي صوفي محمد رحمه اللّه د خلکو په وړاندې اکثريت د نوموړي رحمه اللّه په اړه داسې ويل چې « زمونږ مشر او امير دا دی».

کله چې د علمي سفر په تکل له کور څخه رخصتېده، نو پلار مرحوم يې ورته داسې دعاء وکړه: چې زويه! لاړ شه «اللّٰه تعالی دې له تا څخه له کتابونو پرته عالم او له چوکۍ بغير بادشاه جوړ کړي». هماغه و چې د پلار مرحوم دعاګانې يې په حق کې قبولې او پرته له کوم تخت او تاج يې په هجرت او جهاد کې د شاهانو ژندګي تېره کړه، د نوموړي رحمه اللّه د ژوند هر يو اړخ د هماغې دعاء ثمره او نتيجه وه، علمي اړخ ته يې که لېږ څه کتنه وکړو نو دا بايد

وواېو چې د تحريک او جهادي مصروفياتو په وجه نوموړي رحمه اللّٰه د کتابونو د مطالعې لپاره هېڅ وخت پيدا نکړ، خو بيا هم له دې ټولو مصروفيتونو سره سره د نوموړي رحمه اللّٰه خبرې، تقريرونه او وېناوې د علم او پوهې له ډېرو باريکو نکتو او جملو څخه برخمنې وې، او همدغه راز ډېر ستر ستر علماء کرام به د نوموړي رحمه اللّٰه د وېناوو تر تأثير لاندې راتلل، او اغيز به يې پرې کاوو، د نوموړي رحمه اللّٰه له ځانګړو صفتونو او ځانګړنو څخه چې کله مولوي صوفي محمد رحمه اللّٰه ډېر زيات متأثر شو، نو په ۱۹۹۹م کال يې خپله لور هم نوموړي رحمه اللّٰه ته په نکاح کړه.



ځنځيرونو او هتکړيو تړلي په اسارت کې په پټه توګه وساتل، کله چې په زندان کې دوی ته د خلاصون لپاره ضمانت خطونه راوړل شول نو نوموړي رحمه اللّٰه له لاسليک کولو څخه انکار وکړ، او زياته يې کړه چې دا دستخط کول خو د يو کفري او غير شرعي نظام د منلو په معنی دی، او ما ته زما ايمان او غيرت د دې د منلو اجازه نه راکوي، خو بل لور ته د اللّٰه تعالی اراده بيا بل شان وه، تضمين خط راوړونکی کس يې د نوموړي رحمه اللّٰه له کردار او اخلاقو څخه دومره متأثر کړ چې په خپله يې د نوموړي رحمه اللّٰه نوم په هغه ليست کې ور اضافه کړ چې بايد د خلاصون ترتيب يې وشي.

د جهاد پېل:

په ۲۰۰۰م کال کې يې د مولوي صوفي محمد رحمه اللّٰه په مشرۍ د افغانستان په مختلفو ګرمو جهادي محاذونو او سنګرونو کې برخه واخيسته.

په ۲۰۰۱م کال چې کله د ځبر ځواکي امريکا د افغانستان په مؤمنه، اسلامپاله او جهاد پاله خاوره ظالمانه هوايي او ځمکني بريدونه ترسره کړل او د «افغانستان اسلامي امارت» له عقب نشيني او سقوط سره مخ شو، نو أمير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه اللّٰه هم له پاکستان څخه راغليو ټولو مجاهدينو ته امر وکړ چې بمبار ډېر زيات سخت دی نو تاسې ټول چې څومره ژر کولی شئ بېرته پاکستان ته لاړ شئ.

هماغه و چې کله دوی له افغانستان څخه بېرته خپل وطن ته راستنېدل، د پاړه چنار په سرحدي سيمه کې د پاکستاني پوځيانو له لوري نوموړی او مولوي صوفي محمد رحمهما اللّٰه دواړه د خپلو دیارلسو ملګرو سره يو ځای ټول ونيول شول او تر اولسو مياشتو پورې يې په

په زندان کې د اسارت په مهال خوب ليدل:

واقعاً چې د ربښتينو خلکو خوبونه هم ربښتيني وي، د اسارت په مهال يوه شپه نوموړي رحمه اللّٰه خوب وليد، ګوري چې: يو لوی نهر دی، او پدې نهر کې ډېرې لويې لويې تېږې (کاڼي) پرتې وي، او موږ ټول ملګري ادا هڅه او کوښښ کوو، چې د نهر هاغې غاړې ته ورڅخه واوړو، له مولوي صوفي محمد رحمه اللّٰه څخه پرته ټول ملګري په ډېرې اسانۍ سره وتوانېدل چې له دې لويو او تېرو ډبرو (کاڼو) څخه واوړي، او ځانونه د نهر بلې محفوظې څنډې ته ورسوي، خو صوفي محمد صيب د سينډ څخه د تېرېدو ډېره زياته وېره درلوده، او نه يې شو کولی چې زمونږ په څېر د نهر بلې غاړې ته ځان را ورسوي، چې له همدې امله صوفي صيب بيا د يو ليرې واټن وهلو وروسته د نهر څخه را تېر شو، په سبا سهار يې دا خوب مولوي صوفي محمد رحمه اللّٰه ته بيان کړ، مولوي صوفي محمد رحمه اللّٰه ورته په تعبير کې داسې وويل چې: ستاسو ټولو



خلاصون به ډېر زر وشي او زه به همدلته په زندان کې پاتې کېږم، چې بیا همداسې وشول، امیر صیب محترم را خلاص او صوفي محمد صیب په زندان کې پاتې شو.

د اسارت په مهال د قرآن کریم درس او تدریس:

له قرآن کریم سره یې بې انتها مینه او محبت دې کچې ته رسېدلی و، چې د اسارت په دوران کې یې هم دا عظیمه سلسله ټکنۍ نکړه او نه یې هم ودروله، بلکې په زندان کې یې هم د اسیرانو لپاره د قرآن کریم د درس او تدریس سلسله بیا ځلې شروع کړه.

همیش به یې د قرآن کریم د درس په ذریعه د زندانیانو د عقایدو او اعمالو اصلاح کوله، د دین اسلام لپاره د نوموړي رحمه اللّٰه کوښښونو، اخلاص، ریښتوني جذبې او له قرآن کریم سره بې کچې مینې زندانیان ډېر زیات متأثر کړل، هماغه و چې ډېری یې بیا وروسته د مولوي صوفي محمد رحمه اللّٰه په اسلامي تحریک «تحریک نفاذ شریعت محمدي صلی اللّٰه علیه وسلم» کې د نوموړي تر شاه ودرېدل، او د نوموړي د ښي لاس په څېر یې وکرځېدل.

په ۲۰۰۲م کال کې چې کله نوموړی رحمه اللّٰه په زندان کې د اسارت ورځې شپې سبا کولی، د نوموړي رحمه اللّٰه پلار مرحوم باندې د زړه حمله راغله چې له امله یې مرحوم له دار الفناء څخه د دار البقاء په لور وکوچېد، اللهم اغفر له وارحمه.

په ۲۰۰۳م کال چې کله نوموړی رحمه اللّٰه د ډېره اسماعیل خان له مرکزي زندان راخلاص شو، کور ته له رسېدو سره سم یې د «تحریک نفاذ شریعت محمدي صلی اللّٰه علیه وسلم» د تنظیمي او اداري چارو مخته وړلو، کار بیا ځلې پیل کړ، نوموړی رحمه اللّٰه به تل په سایکل سپور و، او د سیمې مختلفو مسجدونو ته به یې د لمونځونو په وخت کې ځان رسولو، او هلته به یې د تقریرونو او اصلاحي وېناوو په ذریعه د خلکو په زړونو کې د اسلامي نظام د قیام د مړ شوي روح د راژوندي کولو هڅې کولې، د سفرونو دا لړۍ تر ډېره وخته پورې روانه وه.

د ځایي خلکو تربیت او اصلاح:

له نورو علمي او اصلاحي سفرونو، خدمتونو او هلو ځلو سره سره یې د خپل کلي امام ډېرۍ په جامع جومات کې د قرآن کریم د درس او تدریس سلسله هم شروع کړې وه، او د ځایي خلکو دیني، اصلاحي او عقیدوي تربیت او روزنه به یې پکې کوله، د اسلام لومړني اساسي احکام او همدا راز بنسټیز قواعد او مسائل به یې خلکو ته بیانول، د درس او تقریر په جریان کې حقه وینا کول د نوموړي رحمه اللّٰه د فطرت یوه برخه کرځېدلې وه، نوموړي رحمه اللّٰه به تل په ښکاره توګه د شرک، بدعاتو، خرافاتو، د موجوده غیر شرعي رسمونو، رواجونو او همدا راز په پاکستان کې د حاکم کفري او جمهوري نظام د بطلان دلائل او وجوهات د قرآن کریم د آیتونو په رڼا کې بیانول.

هماغه و چې نوموړی رحمه اللّٰه د حکومتي او استخباراتي ادارو له لوري څو ځل له نیول کېدو سره هم مخ شو. د هاغه وخت حکومت د نوموړي رحمه اللّٰه د تحریک د فعالیتونو د درولو او مخنیوي لپاره له مختلفو تکتیکونو څخه کار واخیست، خو بیا هم دا غیرتي او مؤمن مسلمان له خپل موقف څخه یوه ذره هم په شا نشو، بلکې په خپلو فعالیتونو کې یې لا نوره چټکتیا او

سختي را منځته کړه، د اللّه جل جلاله په مرسته د نومورړي رحمه اللّه سوچ، فکر او نظريې د عامو او خاصو خلکو په مينځ کې ډېر زيات محبوبيت پيدا کړ.

په ۲۰۰۵م کال کې ايف ايم راډيو په ذريعه د قرآن کريم درس:

د نومورړي رحمه اللّه درس او تدريس ته اللّه تعالی ډېر لوی مقبوليت ور ببښلی و، هماغه و چې ورځ په ورځ به يې د درس حلقه پر مخ تله او ترقي به يې کوله، له همدې امله په نېږدې او شاوخوا سيمو او کليو کې د نومورړي رحمه اللّه د درس دې سلسلې ډېر لوی محبوبيت پيدا کړ، د ښځو او سپين ږيرو مشرانو له مسلسلو پيغامونو، غوښتونو او ټينګار وروسته يې د ايف ايم راډيو په ذريعې د قرآن کريم د درس او تدريس د شروع کولو فيصله وکړه، چې په لومړي قدم کې يې خپل کشر ورور ته د ايف ايم راډيو د مصارفو په اړه وويل چې دا مصارف به ستا په غاړه وي، خو د وسائلو د نشتون له کبله يې کشر ورور ورته وويل چې زه به سعودي ته لاړ شم، او د خپلې مزدورۍ او محنت په مټ په ګټل شويو پيسو به د دې کار پاتې برخه تکميل کړم، خو د نومورړي رحمه اللّه د فکر او درد له برکته د نومورړي رحمه اللّه يو نېږدې ملګري د دولسو زرو روپيو په بدل کې د ايف ايم راډيو يو وړوکی ماشين واخيست، او د هغه په ذريعه يې په ايف ايم راډيو کې د قرآن کريم درس پيل کړ، څه موده وروسته چې کله د قرآن کريم د درس دا بهير په مخ لاړ نو د سيمې او علاقې د اوسيدونکو په پنځه ويشت زره روپيو يو بل لوی ماشين واخيست، چې له هغه سره د قرآن کريم د درس او تدريس دا عظيمه سلسله لاپسې مخته لاړه،



او همدا شان څه موده وروسته بيا د دريم ځل لپاره په شپيته زره روپيو بل لوی ماشين واخيستل شو، چې د قرآن کريم د درس دا عظيمه او مبارکه سلسله پکې لا چټکه او مخته پسې لاړه.

د ګناهونو او فحشاء خپرونکو وسائلو د له منځه وړلو لړۍ:

د شهيد مولوي فضل اللّه خراساني تقبله اللّه د سختو کوښښونو په برکت د سيمې د خلکو په زړونو کې د اسلام ريښتيني مينې ورو ورو ځای پيدا کاوه، او په دين اسلام باندې د قربانيو مبارکې جذبې يې يو ځل بيا را ژوندۍ شوې، هماغه و چې د نومورړي رحمه اللّه په امر خلکو له خپلو کورونو څخه د معصيت، ګناهونو او فحشاء ټول وسائل په ډېرې خوشحالۍ سره راوويستل، او د هغو په ماتولو يې پيل وکړ.

په هغه وخت کې له دين اسلام سره د بې کچې مينې او محبت دا حسينه او عظيمه ننداره ځمکې، آسمانونو او کائناتو کوله چې عامو مؤمنو مسلمانانو به په خپل منځ کې پيسې را ټولولې او دکاندارانو ته به يې ورکړې او په بدل کې به يې د هغوی له دوکانونو څخه د فحشاء او بې حيايۍ وسائل راټول، او وروسته له سوځولو به يې له خاورو سره خاورې کړل.

د چار باغ سيمې د مرکزي مارکيټ د سوځولو پېښه:

په ۲۰۰۶م کال کې په چارباغ تحصيل کې د فحشاء او بې حيايۍ د خپرونکو وسائلو يو ستر مارکيټ چې په دوزخ مارکيټ مشهور و، د نومورړي رحمه اللّه او ملګرو له لورې يې د ختمولو فيصله وشوه، هماغه و چې د مارکيټ څښتنان يې را وغوښتل او مشوره يې ورسره وکړه چې هر دوکاندار ته به

د هغه د سامان او آلاتو قیمت ورکړل شي، خو سامان به يې ټول سوځول کېږي، تر څو هغه ځانته د بل روزګار ترتيب برابر کړي، هماغه و چې پدې مارکيټ کې د ټولو موجودو سامان آلاتو قيمت څوارلس نیم لکه روپۍ وټاکل شو، خو بیا هم د سوات غیورو مسلمانانو شپاړلس لکه روپۍ چنده راټوله کړه او په دوکاندارنو يې تقسیم کړه، دې ټول مارکیټ ته يې اور ورکړ، او له سوځولو وروسته يې له خاورو سره خاورې ايرې کړ. په کورونو کې چې د فحشاء او بې حيايۍ کوم وسائل موجود و، هغه هم د خلکو له لوري په ډېرې خوشحالۍ او خوښي سره راوويستل شول او د خلکو په منځ کې يې په ښکاره توګه وسوځول.

په ۲۰۰۶م کال کې چې کله په باجوړ ايجنسۍ کې يوه ديني مدرسه د پاکستان د ظالمو استخباراتي ادارو له لوري بمبار شوه، نو پدې بوړنونکې او مظلومه پېښه کې د چارباغ تحصيل هم څو طالبان شهيدان شوي وو، د دې طالبانو په ياد کې نوموړي رحمه اللّه په خپلې سيمې امام ډېرۍ کې د «مرکز الشهداء» بنسټ کېښود، که څه هم د دې مرکز له جوړولو څخه د نوموړي رحمه اللّه مقصد د قرآن کريم اشاعت او د انقلابي فکر خپرول وو، په داسې حال کې چې د نظامي عملياتو هېڅ کوم جامع پلان يې په فکر کې نه و، او نه هم نوموړی رحمه اللّه د يوې لويې دعوتي هڅې پرته د مسلح قيام قائل و، له همدې امله نوموړي رحمه اللّه د دې مرکز په وساطت او ذريعې سره يو ستر دعوتي کار پيل کړ. په دې وخت کې ځينو انقلابي او جهادي فکر لرونکو ملګرو د مختلفو غونډو له لارې نوموړی رحمه اللّه دې ته وهڅاوه، چې که چېرې ته له نظامي فکر پرته يواځې خپل دعوتي کار ته ادامه ورکړې، نو ستاسې زحمت او هلې ځلې به هيڅ نتيجه ورنکړي او



د دښمن له لوري چې د دې مرکز د ړنګولو کوم پلان جوړ شوی، کامیاب شي.

دې ټولو ملګرو به د نوموړي رحمه اللّه سره وخت په وخت د دعوت او جهاد د اهميت، فضيلت او فرضيت په باب مجلسونه کول، هماغه و چې نوموړی رحمه اللّه يې دې ته وهڅاوه چې په پټه توګه د نظامي عملياتو چمتوالی ونيسي. په دې وخت کې د دې جهادي فکر لرونکو ملګرو يو پټ جهادي نېټورک به هم خپل جهادي عمليات په چيرکې توګه کول، خو بل طرف ته حکومت د نوموړي رحمه اللّه له تقريرونو او درسونو څخه داسې انګېرله چې دا نېټورک هم د نوموړي رحمه اللّه مربوط دی.

په ۲۰۰۷م کال چې کله په لال مسجد کې پاکستاني ظالم او طاغوتي پوځ نظامي عمليات ترسره کړل، ډېرې بې ګناه او پاکې وينې يې تويې کړې، په سلګونو با حياء پيغلې او مؤمني طالباني يې په شهادت ورسولې، او د هغوی معصومو جسدونو ته يې اور واچوو؛ نو نوموړي رحمه اللّه هم د امنيتي او استخباراتي ادارو څخه د لال مسجد د شهيدانو د انتقام اخيستلو فيصله وکړه، خپلو خپلوانو او ملګرو ته يې وويل چې چېرته هم د حکومتي او فوځي ادارو چارواکي په مخ درشي، قتل يې کړئ، او وې وژنئ. هماغه و چې د سوات په شنو درو او اسمانڅکو غرونو کې په باطلو او اجيرو پوځونو تندريز بريدونه پيل شول.

په ۲۰۰۷م کال چې کله د نوموړي رحمه اللّه دعوت يو لوی او مؤثر شکل خپل کړ، نو د هاغه وخت اجير حکومت دا ونشو زغملی، او د نوموړي رحمه اللّه د نيولو فرمان يې صادر کړ، پدې ورځو کې نوموړی رحمه اللّه د سوات کانجو سيمې ته د «بيت القرآن» نومې مدرسې د افتتاح

لپاره تللی و چې په واپسۍ کې وربانديې برید هم وشو، خو د اللّه عز وجل په نصرت د نومورې رحمه اللّه ملګرو يې په ډېرې کمې اسلحې سره په ډېره مېړانه مقابله وکړه، برید يې په شاه وتمباوه، او له محاصرې څخه د نومورې رحمه اللّه په ويستلو کې کامیاب شول، وروسته بیا د جرګې په مټ له حکومت سره مذاکرات وشول، خو څه موده وروسته د حکومت له لورې یاده معاهده هم ماته کړل شوه، او د منګلور په سیمه کې يې د معاهدې خلاف د دوهم ځل لپاره چاپه ووهله، چې حکومت پکې د نومورې رحمه اللّه د نیولو کوښښ هم ډېر زیات وکړ، خو دا ځلې هم اللّه تعالی په خپل ځانګړې نصرت سره نومورې رحمه اللّه د دښمن له پنجو څخه وساته، او د نومورې رحمه اللّه څوارلس ملګري په یاده چاپه کې اسیران شول.

نومورې رحمه اللّه د وخت طاغوتي او ظالم حکومت او پوځونو ته اخطار ورکړ، که يې ملګري خلاص نشي نو دی به د موجوده حکومت په خلاف د جنګ اعلان وکړي، هماغه و چې چې دولس ورځې وروسته له حکومت سره مذاکرات وشول چې په پایله کې يې یاد اسیران ملګري ټول راخلاص شول، خو څو ورځې وروسته حکومت د دوهم ځل لپاره بیا له دغه تړون څخه سرغړونه وکړه، او د چارباغ تحصیل په کورک سیمه کې يې د نومورې رحمه اللّه دوه علماء کرام ملګري ونیول، نومورې رحمه اللّه د دوهم ځل لپاره حکومت ته اخطار ورکړ، خو دې جابر حکومت د نومورې رحمه اللّه د دې اخطار په اړه سکوت اختیار کړ، او هېڅ يې هم ونه ویل چې بالآخره نومورې رحمه اللّه خپلو ټولو ملګرو ته امر وکړ چې چېرته هم وکولی شئ حکومتي چارواکي ونیسئ، چې له همدې امله بیا د نومورې رحمه اللّه د ملګرو له لورې په کبل تحصیل کې دوه پولیس ونیول شول چې وروسته بیا د هغه دوه علماء کرامو په تبادله کې پرېښودل شول.



د لال مسجد مظلومه بوږنونکې پېښه او د هغې انتقام:

په هماغو ورځو کې د اسلام دښمنه حکومت او طاغوتي پوځ له لورې په لال مسجد کې پوځي عملیات وشول، چې د دوه زرو په شمېر د دیني زده کړو ډېر پاک او سپېڅلي نارینه او ښځینه زده کوونکي (طالبان او طالبانې) پکې شهیدان شول، نومورې رحمه اللّه هم د دې سپېڅليو شهیدانو د انتقام اخیستلو اراده او عزم وکړ، چې په همدې سلسله کې د نومورې رحمه اللّه د حکم په اساس د نومورې رحمه اللّه ملګرو د سوات تحصیل د متې په سیمه کې د پولیسو په یوې سترې قرارګاه برید ترسره کړ، چې له همدې ځایه په سوات کې د دې روان مبارک جهاد «جهاد پاکستان» آغاز وشو.

د سوات لومړی سقوط:

د پولیسو په قرارګاه باندې د برید له ترسره کېدو وروسته سمدستي فوځ سوات ته داخل شو، له فوځ سره د دوه میاشتني مقاومت او مبارزې وروسته طالبانو دا فېصله وکړه چې اوس باید د عقب نشیني او شاتګ لار اختیار کړو، ځکه چې د دښمن شمېر بېخي زیات دی، او اوسمهال يې هرارخیز مخنیوی او مقابله ډېره مشکله ده، په همدې توګه د سوات اولنی سقوط وشو، او نومورې رحمه اللّه د باجوړ په لور وکوچېد.

د وزيرستان په لور سفر او د «تحريک طالبان پاکستان» قيام:

په باجوړ ايجنسۍ کې له څه مودې تېرولو وروسته د حالاتو سره د مقابلې او يوې کامیابې تګلارې د لاسته د رامنځته کولو په پار يې د وزيرستان په لور سفر وکړ، د وزيرستان په خاوره يې د پاکستاني پوځ په خلاف له يو ستر مبارز، فکري او جهادي شخصيت محترم شهيد بيت اللّه محسود رحمه اللّه سره د «جهاد پاکستان» په منظمه او دوامداره توګه د مختنه ورلو، د يو مضبوط او قوي نظم په را منځته کولو، د جهادي پاليسيو په ترتيب او همدارازپه نورو ډېرو اهمو موضوع ګانو باندې کڼې مشورې او مجلسونه ترسره کړل، له همدې ځايه د د دې عظيم او سپين سپيڅلي لښکر «تحريک طالبان پاکستان» د قيام اعلان وشو.

او اوس دا دی څه کم دوه لسيزې کېږي چې د اسلامي امارت (أعزها اللّه) په قيادت او اطاعت کې په خپله خاوره د اسلامي نظام د قيام او نفاذ په پار د جهاد عظيمه فريضه په مخ وړي.

په سوات باندې د طالبانو بريد او د پوځ تېښته:

د تحريک طالبان پاکستان له رسمي اعلانېدو وروسته طالبانو يو ځل بيا په سوات باندې سخت بريد وکړ، چې په نتيجه کې يې څه پوځ په محاصره کې بند پاتې شو، او پاتې نوري يې ټول يې په تېښتې سره برياليي شول، هماغه و چې ټول سوات ته طالبان راداخل او شرعي نظام يې اعلان کړ.

تر ۲۰۰۹م کال پورې په سوات کې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې شرعي نظام قائم و، خو څه وخت وروسته بيا د عوامي نشنل ګوند د حکومتولۍ په دوره کې پوځ له مولوي صوفي محمد صاحب رحمه اللّه سره د



مذاکراتو اعلان وکړ، چې دا په اصل کې د محاصره شويو فوځيانو د ويستلو، د مجاهدينو د حکومت د ختمولو او د حدود اللّه د معطل کولو لپاره د ډارن دښمن يو پلان او سازش و، خو دلته يو ځل بيا پاکستاني حکومت له خپل مخکيني چلند، چل، فريب، خيانت او دروغو څخه په کټې اخيستني څو مهم مشران ګرفتار او په سوات يې بريد ترسره کړ، له يو ستر مقاومت وروسته له ټول ملاکنډ ولايت څخه مجاهدين عقب نشيني او شاتګ ته مجبور شول، امير صيب محترم هم له سوات څخه د باجوړ په لور لاړ.

د هجرت پيل:

په ۲۰۱۰م کال په باجوړکې له څه مودې تېرولو وروسته پوځ په باجوړکې ستر پوځي او نظامي عمليات ترسره کړل، چې له امله يې امير صيب محترم له خپلو ټولو ملګرو سره د افغانستان د سرحدي ولايت کنړ له لارې نورستان ولايت ته ورداخل شو، او هلته يې د مجاهدينو په نظم او د نويو مرکزونو په جوړولو لاس پورې کړ.

د دوهم ځل لپاره د مجاهدينو منظم کول:

د سوات د سقوط او همدا راز د مختلفو سيمو څخه د عقب نشيني له امله مجاهدين ډېر زيات کړېدو او سره ورک شول، د نوموړي رحمه اللّه د اخلاص او هلو ځلو په برکت سره لومړی کار خو دا وشو چې د ملاکنډ ولايت ټول مجاهدين له سختو اوږدو مزلونو او سفرونو وروسته د مختلفو سرحدي سيمو له لارې افغانستان ته داخل شول، په همدې توګه د مجاهدينو يو ستر قوت د يو لوی او زيات شمېر

مجاهدينو په شکل کې ببرته سره را يو ځای شو، پدې وخت کې چې نوموړی رحمه اللّه د مجاهدينو په منظمولو بوخت و، د پاکستان او افغانستان دواړو اجيرو حکومتو دا آوازه خپره کړه او دعوی يې وکړه چې نوموړی رحمه اللّه يې په شهادت رسولی دی، خو د يو کامياب حکمت په اساس نوموړي رحمه اللّه له څه مودې خفيه تېرولو وروسته خپل يو ويډيو پيغام نشر ته وسپاره، چې د دښمن حوصلې او پلانونه يې د بيا ځلې لپاه له خاورو سره خاورې کړل.

همدغه شان نوموړي رحمه اللّه د ملاکنډ ولايت ټول مجاهدين سره راټول او منظم کړل، او د نورو حلقو له مجاهدينو سره يې هم د رابطو د انجسام او هماهنګۍ په را منځته کېدو کار پيل کړ، چې پدې سلسله کې يې د وزيرستان، دره آدم خيل او باجوړ حلقو سره د خپل مرکز رابطې ببرته فعاله کړې.

په ۲۰۱۲م کال کې چې کله په مهمند ايجنسۍ کې پوځ عمليات شروع کړل، نو نوموړي رحمه اللّه هم د مهمند ايجنسۍ جهادي محاذ د خونړيو جګړو په مټ ګرم وساته، او خپلو ټولو ملګرو ته يې امر وکړ چې ټول مجاهدين ملګري بايد د مهمندو ايجنسۍ د غيورو مجاهدينو تر شاه ودرېږي، او په ګډه باندې د پاکستاني طاغوتي پوځ مقابله وکړي.

په ۲۰۱۳م کال چې کله د «تحريک طالبان پاکستان» د امير محترم شهيد حکيم اللّه محسود (تقبله اللّٰه) له لوري په خيبر ايجنسۍ کې د ځايي لښکريانو (پاڅون کوونکو اربکيانو) سره د جنګ فېصله او اعلان وشو، نو نوموړي رحمه اللّه هم د يو اوږد او ستونزمن سفر وروسته هلته ځان ور ورساوه، او په هغه جنګ کې يې هم خپل نظامي کردار په کامله معنی ادا کړ، په خيبر ايجنسۍ کې يې له مختلفو علماء کرامو او د «تحريک طالبان پاکستان» د مختلفو حلقو له مسؤلينو سره په ګڼو موضوعاتو هر اړخيزې مشورې او مجلسونه وکړل، چې يوه موضوع پکې د ملاکنډ ولايت د مجاهدينو د ببرته منظم کولو وه، او بله موضوع پکې د تحريک د مخ ته وړلو موضوع وه، هلته چې کله له اړينو او مهمو کارونو څخه فارغ شو نو ببرته د ديار هجرت نورستان په طرف راستون شو، او څه موده يې هلته تېره کړه.



د امير محترم حکيم اللّه محسود تقبله اللّٰه شهادت او په ځای يې د نوموړي رحمه اللّه ټاکل:

په ۲۰۱۳م کال کې چې کله د «تحريک طالبان پاکستان» محترم امير شهيد حکيم اللّه محسود تقبله اللّٰه د يوې امريکايي څارګرې الوتکې «ډرون» په برېد کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد، نو د «تحريک طالبان پاکستان» د رهبري شورٰی له لوري نوموړي رحمه اللّه د «تحريک طالبان پاکستان» د امير په توګه وټاکل شو، نوموړي رحمه اللّه له خپلې ټاکنې وروسته د وزيرستان په لور د سفر کولو اراده وکړه، په داسې حال کې چې يوې خوا ته د لارو مشکلات و، او بل لور ته بيا په وزيرستان کې د پوځ عمليات او همدا راز د محسود مجاهدينو په منځ کې ډېر سخت اختلافات هم شروع ول، خو بيا هم امير صيب محترم د حالاتو هېڅ پروا ونکړه، او له لسيزو پياده مزل وروسته وزيرستان ته ورسېد. نوموړي رحمه اللّه چې کله وزيرستان ته ورسېد د مجاهدينو په منځ کې يې د اختلافاتو د ختمولو لپاره خپلې هڅې لاګرندۍ کړې، چې (للّه الحمد) د اللّه تعالی په نصرت هغه ټول اختلافات په هغه وخت کې رب ذو الجلال د نوموړي رحمه اللّه په

لاس ختم کړل.

دا باید ووایو چې کله نوموړی رحمه اللّٰه د «تحریک طالبان پاکستان» د امیر په توګه وټاکل شو، په هغه وخت کې تحریک له ډېرو سختو بحرانونو، ستونزو او مشکلاتو سره مخ و، لکه اقتصادي مشکلات، د تنظیمونو اختلافات، د مجاهدینو په منځ کې د هماهنګۍ نشتون، په مرکز وزیرستان کې د فوځ له لوري سخت عملیات او همدا راز د امیر محترم حکیم اللّٰه محسود تقبله اللّٰه شهادت...!

خو بیا هم د اللّٰه تعالی په ځانګړي نصرت او مرستې نوموړي رحمه اللّٰه په ډېرې لویې حوصلې او لوړ عزم سره د دې ستونزمنو حالاتو مقابله وکړه، او دا عظیم تحریک یې له دې سختو بحراني څپو څخه روغ وویست.

په ۲۰۱۷م کال یې له «تحریک طالبان پاکستان» څخه د مختلفو وجوهاتو په بناء بیل شویو ګروپونو سره اړیکې ونیولې، او د هغو ټولو ګروپونو مسؤلینو ته یې مختلف هیئتونه ولېږل، تر څو د اتحاد او اتفاق، صلحې او جوړجاړي یوه فضاء رامنځته شي، د نوموړي رحمه اللّٰه د اخلاص او صداقت له برکته محترم سید خالد (چې په سجنا امیر صیب مشهور و) سره له خپلو ټولو ملګرو بېرته تحریک ته راستون شو، چې هغه مجاهدین اوس الحمد للّٰه د تحریک مرکزي حصه شمېرل کېږي، پدې وخت کې مختلفو استخباراتي کړیو ځو ځل د دې هڅه وکړه چې تحریک طالبان په خپل منځ کې او یا د «داعش» سره په جنګ بوخت کړي، خو نوموړي رحمه اللّٰه د خپل نیک او عظیم تدبیر او د ستر ایماني بصیرت په مټ دا تحریک له داعش سره په جنګ کې له ښکېلېدو څخه وژغوره، په داسې حال کې چې داعش په خپله هم څو ځلې داسې اقدامات ترسره کړل چې تحریک جنګ ته اماده کړي، خو بیا هم امیر صیب محترم د داعش له فتنې څخه تحریک وساته.



صفات او ځانګړنې:

شهید مولوي فضل اللّٰه خراساني رحمه اللّٰه له ډېرو عظیمو صفاتو او ځانګړنو څخه رب ذو الجلال برخمن کړی و، د نوموړي رحمه اللّٰه جلالي ایمان، غریز استقامت، سرکېدونکې فداکارۍ، سخاوت، تقوی او د رب ذو الجلال څخه وېره او په هغه ټینګ باور ځانګړي صفات وو، همیش به یې له مجاهدینو، بیت المال او د جهاد اړوند په ټولو شیانو او کارونو کې له ډېر زیات احتیاط څخه کار اخیست.

سربېره پر دې چې کڼ داخلي او بهرني مشکلات یې مخې ته پراته وېل، تل به یې ملګرو د توصیې په شکل په ټینګار سره ویل چې باید صبر وکړو، او د خپل عظیم رب فیصلې ته په طمع وسوو، نه غواړم چې د کوم مجاهد او مسلمان وینه په لایعنی کارونو کې تویه شي. د مجاهدینو د اتفاق او اتحاد ستر ارمانجن و، په همدې لړ کې ډېرې زیاتې هلې ځلې هم وکړې، چې مخکې مو یې په لنډه توګه یادونه هم وکړه.

د رب ذو الجلال سره تعلق او رابطه یې دې ځای ته رسېدلی وه، چې ځانته یې پخپله واسکټ جوړ کړی و، او همېش به یې په تن و، ویل به یې که مې دښمن هم وولي، باید روغ بدن د رب حضور ته لاړ نشم، خو وروسته څرګنده شوه چې دا هر څه د رب له لوري په تقدیر کې ورته همداسې لیکل شوي وو.

له اسلامي امارت سره مینه او علاقه:

شهید مولوي فضل اللّٰه خراساني رحمه اللّٰه لکه څنګه چې په اسلام یو مئین او سرشاره شخصیت و، هماغه و چې د مؤمنو



مسلمانانو په زړونو کې یې هم پراخ محبوبیت ترلاسه کړی و، نوموړي رحمه اللّٰه به اکثر خپلو ملګرو ته د اسلامي امارت (أعزها اللّٰه) د مشرانو او سپیڅلي قیادت په اړه نیکې توصیې کولی، په اکثرو کارونو او عملیاتو کې به یې د نورستان لپاره د اسلامي امارت د والي شهید شیخ دوست محمد رحمه اللّٰه څخه مشورې اخیستې، او د اسلامي امارت له نظر مشورې وروسته به یې یاد کار ترسره کاوه، نوموړي به ویل چې مونږ به د قیامت تر ورځې پورې د أمیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه اللّٰه تر امر لاندې د اسلامي امارت په اطاعت او قیادت کې له هندوستان نه تر مراکشه، او له ازبکستان نه تر شیشان پورې ټول مجاهدین په یو صف او اطاعت کې د کفر او طاغوت په وړاندې جنګیږو.

کله چې د افغانستان په خاوره داعش ظهور وکړ، نو ډېرو داعشیانو په نوموړي رحمه اللّٰه باندې ډېر زیات ټینګار وکړ چې زمونږ سره بیعت وکړه، مونږ به تاسې د خپل امیر په توګه وټاکو، خو برعکس امیر صیب (تقبله اللّٰه) یې خبره رد کړه، او زیاته یې کړه، چې زما په شمول زما ټولو ملګرو د تحریک طالبان پاکستان تر چتر لاندې د اسلامي امارت په دفاع کې جهاد شروع کړی، او آن د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې به یې کوو.

څه موده وروسته د نوموړي رحمه اللّٰه له لوري د علماء کرامو څو کسیزه هیئت داعشیانو ته د مناظرې لپاره واستول شو، کله چې مناظره وشوه، د داعشیانو د ټولو شبهاتو او اعتراضاتو ځوابونه د جیدو علماء کرامو له لوري ورکړل شول، هماغه و، چې هغه مناظره د ټولنیزو رسنیو له لارې تر هر مسلمان ځوان پورې ورسیده، او اللّٰه تعالی یې د ګمراهۍ څخه د خلاصون او هدایت سبب وګرځوله، په ځانګړې توګه د کنړ، نورستان او ننګرهار ولایتونو کې، چې له امله ډېر هغه کسان چې داعشیان شوي وو، بېرته خپلو ځایونو ته راغلل، چې د اسلامي أمت په ځانګړي توګه د اسلامي امارت لپاره ډېر د خوښۍ زیری او لامل وګرځېد.

کله چې د اسلامي امارت د رهبري شورى له لوري د أمیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه اللّٰه د وفات او همدارازپه ځای یې د شهید أمیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه اللّٰه د اسلامي امارت لپاره د نوي زعیم د ټاکل کېدو په اړه رسمي خبر خپور شو، ټولو ته معلومه ده چې د کنو داخلي او بهرني استخباراتو په مټ په مجاهدینو کې ځینې اختلاف رامنځته شول، یو لور ته داعشیانو ظهور کړی و، بل لور ته د اسلامي امارت ځینو لوړ رتبه مشرانو له أمیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه اللّٰه سره بیعت نه کاوه، آن چې ځینې یې په نورو لارو لاړل، او ځانونه یې د هلاکت کندو ته وغورځول.

پدې وخت کې اګرچه مشکلات هم زیات وو، لاندې د اجیر حکومت تسلط و، له پاسه به ځارکرو امریکایي ډرون الوتکو فضا په بل سره اخیستې وه، بل لور داعشیانو بریدونه کول، خو د دې ټولو مشکلاتو سربېره بیا هم شهید مولوي فضل اللّٰه خراساني رحمه اللّٰه خپل ټول مشران او د رهبري شورى ملګري راټول کړه او د اسلامي امارت له نوي زعیم شهید أمیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه اللّٰه سره په هجرت او جهاد بیعت وکړ، چې څو ورځې وروسته د نوموړي رحمه اللّٰه د ملګرو له لوري د یاد بیعت د مراسمو ویډیو خپره شوه، چې پدې سره نوموړي رحمه اللّٰه یو ځل بیا له اسلامي امارت سره خپله خوږه رشته، تعلق او وفاء د نړیوالو

او خپل رب په وړاندې ثابته او د چې ايچ کيو مانۍ برجونه يې يو ځل بيا ولړزول.

د اسلامي امارت له زعيم شمس الشهدآء مجدد وخت أمير المؤمنين ملا اختر محمد منصور رحمه اللّه سره به يې نږدې اړيکې او تعلقات ساتل، په شهيد أمير المؤمنين ملا اختر محمد منصور رحمه اللّه باندې هم ډېر زيات ګران و، شهيد أمير المؤمنين رحمه اللّه به يې هم د قاصدانو په مټ وخت په وخت پوښتنه کوله، مشورې به يې سره کولې، او د يتيمانو او کونډو لپاره به يې مرستې هم ورته رالېږلې.

سرښيندنې او فداکارۍ:

د نومورې رحمه اللّه شخصيت او کورنۍ ته که د ژوند له هر اړخه لېږ څه کتنه وکړو نو دا بايد ووايو، چې په ډېر شجاعت او ميړانې يې د صحابه کرامو او نېکو سلفو تاريخونه راژوندي کړي وو، همامغه و چې د دين اسلام لپاره يې په ژوند کې تر ټولو خوږې رشتې (مور) په شمول خپله خواښې، خسر (مولوي صوفي محمد صيب) او يو ورور د ظالم طاغوتي او جمهوري نظام د استخباراتي ادارو له لوري په وحشت ناکو زندانونو کې د کلونو زندان تېرولو وروسته په ډېرې بې دردۍ سره په شهادت ورسېدل، او جنازې له زندانونو څخه راووتې. (نحسبهم کذالک واللّه حسيبهم)

مشر زوی مولوي نجيب اللّه يې په ۲۰۱۳ م کال کې د نومورې رحمه اللّه په مشوره او اجازه په ظالم طاغوتي پوځ باندې مبارک استشهادي عمليات ترسره کړل.

دوهم زوی عبداللّه چې له نومورې رحمه اللّه څخه يې د استشهادي عملياتو اجازه هم اخيستې وه، او خپلو عملياتو ته منتظر و، څو کاله وړاندې په ديار هجرت کې د خپلو دوه ويشتو (۲۲) نورو استشهادي ملګرو سره د امريکايي څارګرې الوتکې ډرون په يو ناځوانمردانه بريد کې په داسې حال کې په شهادت ورسېد چې په يو جهادي معسکر کې يې د استشهادي عملياتو اړوند تمرينات ترسره کول.



دريم زوی يې عبد الرحمن هم په ديار هجرت کې په داسې حال کې په شهادت ورسېد چې خپلو نورو ملګرو ته يې د اسلحو درس ورکاوه. (نحسبه کذالک واللّه حسيبه)

شهادت:

په ۲۰۱۸م کال کې جامع المحاسن والکمالات، ستر ولي، د دين اسلام دا ستر سپاهي، د جهاد عظيم رهبر، د انقلاب امام، د اسلام داعي، طالب حق مولوي فضل اللّه خراساني د اللّه جل جلاله د قطعي فيصلې «کل نفس ذائقة الموت» د حکم په اساس په ۲۹ رمضان المبارک (چې د ۲۰۱۸م کال د شپږمې مياشتې د ۱۴ نيټې سره يې سمون درلود) د يوې امريکايي څارګرې الوتکې «ډرون» په يو ناځوانمردانه بريد کې د شپې په لسو بجو او دوه ويشت دقيقو د شهادت لوړې مرتبې ته ورسېد، او د خپل زړه د ريښتوني تمنا سره سم د اللّه جل جلاله عظيم دربار ته ټوټې ټوټې او سوځېدلی وجود وکوچيد. (رحمه اللّه رحمةً واسعةً).

د شهيد امير صيب تقبله اللّه ژوند او تګلاره بيا محترم مهاجر زاهد صيب په خپل شعر کې داسې بيان کړې دی:



سر دې کړو منزل، تر شهادته پورې لاره وه
لوظ و، د ژوند د ضرورته پورې لاره وه

تا ځان ته هدف د ژوند د رب رضا ټاکلی وه
تا سره یوه د شریعته پورې لاره وه

وَس د بغاوت له یو جابر څخه نور څه به وو
یا مقاومت، یا د هجرته پورې لاره وه

ستا فطرت له سترېو پړاوو سره تړلی وي
عشقه! په ترخو دې د خوږلته پورې لاره وه

خوښ وې د دنیا له رنګینو لرې په غرونو کې
زُهد دې زاهده د جنته پورې لاره وه

لومړۍ برخه

ليكوال: مولوي احمد جان

خارجي او افراطي فكر او جهادي تحريكات

الحمد للّه والصلاة والسلام على رسول اللّه وعلى آله وأصحابه ومن والاه، أما بعد، فأعوذ باللّه من الشيطان الرجيم [وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ] (البقرة: ١٤٣) [يٰاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِىْ دِيْنِكُمْ] (النساء: ١٧١)

وقال النبي صلى اللّه عليه وسلم: «إياكم والغلو، فإنما أهلك الذين من قبلكم غلوهم في دينهم».

طائفه منصور اهل السنة والجماعة دى، او د دوى د امتيازاتو څخه يوه يې ميانه روي ده، يعني نه افراط كوي او نه هم تفريط، چا چې هم په دغه امت كې د افراط يا تفريط لاره اختياره كړې د صراط مستقيم څخه منحرف شوى، او بالآخره د جمهورو اهل سنت لاره او منهج ترې ورك شوى، او د شَذَّ شُذَّ مصداق ګرځېدلي دي.

بالخصوص په دين كې بې ځايه تشدد او غلو مخكيني اديانو والاهم تباه كړي وو، او په دغه امت كې اولنى خطرناكه فتنه د تشدد او غلو د لارې راغله، او امت يې د يو لوى مشكل سره مخ كړ، چې هغه د خوارجو فتنه وه، او نبي عليه السلام فرمايي: كلما طلع قرن قُطع. ژباړه: «كله چې هم راښكاره شي كټ كېږي به».

نو طائفه منصوره ځكه اهل السنة والجماعة ده چې په طول د تاريخ كې د اهل السنة والجماعة د منهج څخه منحرف شوى خارجي ډلو كله هم داسې كاميابي نده ترلاسه كړې چې د امت قيادت وكړي، ځكه خوارج ډېر بې رحمه خلك وي، او دا مرحومه امت دى، اللّه سبحانه و تعالى داسې ظالمانو ته د دې امت قيادت نه وركوي، وخت په وخت خارجي ډلو ظهور كړى، ليكن بيا ختمې شوى دي، او دا سلسله به د قيامت تر راتلو پورې روانه وي.

نبي عليه السلام به په هر كار كې د نرمۍ او اسانۍ څخه كار اخيستلو، تر دې پورې چې د جمراتو د ويشتلو په وخت كې يې هم په منى كې حضرت عبد اللّه ابن عباس رضي اللّه عنهما ته يې امر وكړ: ألقط لي مثل حصى الخزف، وإياكم والغلو، فإنما أهلك الذين من قبلكم غلوهم في دينهم.

ژباړه: ما لره واړه واړه كاڼړي راواخله چې جمرات ورباندې وولم. په دين كې ځان د بې ځايه سختۍ او تشدد نه بچ كړئ ځكه ستاسو نه چې كوم مخكيني خلق تير شوي هغوى هم غلو في الدين تباه او هلاک كړي وو.

پدې وجه صاحب د (إياكم والغلو (په ص: ٤ كې فرمايي: لا يغلو عبد إلا يخرج من الهدى الصالح في آخر الأمر.

ژباړه: چې څوک هم د غلو څخه كار اخلي په دين كې هغه بالاخره د سمې طريقې او منهج څخه وځي.

او په ص: ٨ كې فرمايي: ولا تجد فرقة بين المسلمين إلا

بسبب الغلو. ته به ونه مومې په مسلمانانو کې بيلتون، فرقه واريت، او اختلاف مګر د غلو په وجه.

شيخ الاسلام علامه ابن تيميه رحمه اللّه فرمايي: الغلو مجاوزة الحد بأن يزاد في الشيء في حمده او ذمّه على ما يستحق ونحو ذلک.

ژباړه: غلو د يو شي باره کې د خپل حد څخه تجاوزته وايي، يعني مدح او يا ذم کې د هغې چې څومره حق وي سرې د هغې څخه واوړي. اقتضاء الصراط المستقيم ج: ۱، ص: ۲۸۹:

حافظ إبن حجر رحمه اللّه فرمايي: الغلو بأنه المبالغة في الشيء والتشدد فيه بتجاوز الحد».

ژباړه: غلو دېته وايي چې د يو شي باره کې سرې دومره مبالغة او سختي وکړي چې د صحيح حد نه پکې تجاوز وشي. فتح الباري، ج: ۱۳، ص: ۲۷۸:

صاحب د نضرة النعيم بيا د غلو معنی داسې بيانوي: تجاوز الحد الشرعي في أمر من أمور الدين.

ژباړه: د شرعي حد څخه د دين په يو کار کې اوړېدل.

عبد اللّه بن مسعود رضي اللّه عنه فرمايي: إياكم والتبدع، إياكم والتنطع، وإياكم والتعمق، وعليكم بالدين العتيق.

ژباړه: ځان ساتئ د بدعاتو نه او ځان ساتئ د تکلف او سختۍ نه په دين کې، او زوړ دين را ټينګ کړئ.

اعلام الموقعين، ج: ۴، ص: ۱۰۵:

انس بن مالک رضي اللّه عنه د نبي عليه السلام حديث نقل کوي، فرمايي: قال رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم: «إن هذا الدين متين، فأوغلوا فيه برفق؛ فان المنبت لا أرضا قطع ولا ظهرا بقي.

رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم فرمايلي: دا دين مضبوط دی، پدې کې رسوخ حاصلوئ، نو په نرمۍ سره يې حاصل کړئ، څکه هغه مسافر چې شپه ورځ مزل کوي (يعني د ميانه روۍ څخه کار نه اخلي) هغه په خپله هم مقصد ته نشي رسېدلی، او نه يې سورلۍ رسولای شي.

لا أرضا قطع ولا ظهرا بقي. مثال دی د هغه چا لپاره چې ډېره سختي کوي، يعني نه خپله بيا منزل مقصود ته رسېدلی شي، څکه خپله يې د وسع نه بهر وي، او نه يې سورلۍ رسولای شي، ځکه هغه يې د سختۍ په وجه ضائع کړې وي، نو سختي کونکی په خپله هم منزل مصود ته رسېدلی نشي، او د سختۍ په وجه منزل ته رسوونکي اسباب هم يې ضائع کړي وي. ابن عثيمين رحمه اللّه د دغه مثال شرح داسې کړې ده: والمنبت الذي يمشي ليلًا ونهارًا دائمًا، هذا لا أرضًا قطع ولا ظهرًا بقي، بل يتعب ظهره وبالتالي يعجز ويتعب ويحسر ويقعد. (شرح رياض الصالحين)

ژباړه: منبت هغه چا ته وايي چې شپه او ورځ مسلسل روان وي (يعني دمه او ميانه روي نه کوي) نو دا نه خپل منزل ته رسېدلی شي او نه يې سورلۍ باقي پاتې کېدای شي، بلکې د مسلسل تګ په وجه سورلۍ يې هم له کار وځي، او د استفادې وړ پاتې نشي، ستړی هم شي، او بالاخره د تګ څخه عاجزه شي، کېني او منزل مقصود ترې پاتې شي.

لکه په معاصر جهاد کې هم په ځينو محاذونو کې داسې وشول چې د ځينو افراطي فکر لرونکو غرو او وګړو له طرفه د ژوند د بشري ژوند د مختلفو شعبو سره تړاؤ لرونکو خلکو سره نهايت د تشدد معامله وشوه، چې د هغې په وجه يې ملګري هم په مختلف قسم جنګونو کې ښکېل شول، چې په نتيجه کې خپل ډېر حاميان او همدردان د لاسه ورکړل، چې اوس پخپله منزل مقصود ته رسېدلی نشي، او دغه ټول ممکنه اسباب، وسائل او همکاران يې د تشدد په وجه ضائع کړل، هغوی هم ورسره همکاري نکوي، يا يې جهاد ته د شک په نظر ګوري او يا د دومره لوی ابتلاء د برداشت څخه ځان عاجزه بولي، چې په کومه ابتلاء کې د ژوند د ډېرو شعبو د مربوطو کسانو سره دښمني او اختلاف وي ځکه ميانه روي کول او ځان ته دښمن کمول (تقليل الأعداء) د نبي کريم صلى اللّه عليه وسلم د سياست او سيرت يو اهم جانب او حصه ده.

پدې وجه نبي کريم صلى اللّه عليه وسلم درې ځلې ارشاد فرمايلی دی چې: هلک المتنطعون، قالها ثلاثًا. (مسلم، کتاب العلم) امام نووي رحمه اللّه د دې په شرح کې داسې ارشاد فرمايلی دی: هلاک دې تکلف او غلو کونکي، چې په خپلو اقوالو او افعالو کې د حد څخه تجاوز کوي. (شرح النووي على المسلم)

مجاهده پښتنه

د سوات له رنګينيو د خيبر تر درو د يوې مؤمنې مهاجرې پښتنې خور د هجرت ريښتونى حماسي داستان

لیکوال: صلاح الدين منصور

دا ۲۰۰۹ ميلادي کال و، هغه مهال چې پوځ پر سوات د عملياتو اعلان وکړ، نو ډېر ځايي اوسېدونکي او مجاهدين له کورنيو سره نورو سيمو ته مهاجر شول، ځيني د هېواد نورو ګوټ مېشتو ښارونو، ځينو د وزيرستان مختلفو علاقو ته، او ځينو نورو بيا له افغانستان سره په ګډه پوله واړول.

زه حسن مهاجر د مجاهدينو د چريکي ډلې غړى وم، دا چې زمونږ ګروپ به کارونه ډېر وخت پټه او مخفي توګه ترسره کول، نو زما په اړه خو چا لا ګمان نه کاوو، چې ګوندې دى به له مجاهدينو سره لاس ولري، نو ځکه خو مې تر دې دمه د هجرت نيت نه و، ځکه دلته په پاتې کېدو کې مونږ دوه ګټې کولى، لومړى د پوځ له شمېر او پلانه مجاهدينو ته معلومات ورکول، دوهم د ځينو هغو مجاهدينو لپاره د پناه ځاى او ټيکاڼې برابرول چې په پټه به يې په پوځ عمليات کول، زه احتياطاً له کوره ډېر نه راوتلم، ځکه پوځ خپل مخبرين او جاسوسان هر ځاى تيت او خپاره کړي وو، پر هېچا دې د خواخوږي ګمان نشو کولى، خو ما بيا هم د راز ملګري پوه کړي وو، که مو زما اړوند څه واورېدل نو حتماً به حال راکوئ.

په همدې حالاتو کې ځينو ملګرو په پټه توګه خبر راکړ چې له پوځ سره ستا انځورونه ليدل شوي، او له خلکو يې ستا د نوم او ادرس پوښتنه کړى، ښه دا ده چې د ځان لپاره احتياطي تدابير ونيسى، پر همدې کال مې تازه واده هم کړى و، مېرمن مې پوهېده

چې زه د مجاهدینو له مخفي او چریکي ګروپونو سره تړاو لرم، هغې ته مې کیسه وکړه، چې پوځ زما له کارونو او فعالیتونو خبر شوی، او زما د نیولو کوښښ کوي.

له خپلې میرمنې سره تر مشورې وروسته دې پایلې ته ورسېدو چې میرمن به مې د خسر کور ته ولاړه شي، او زه به د مهاجرینو د کاروان ملګری شم، پر سبا د هجرت په نیت زه او میرمن دواړه له کوره ووتلو، عجیبه وې چې دوه انسانان په یوه نیت په دوو لارو درومي، میرمنې مې ټینګار کاوو، چې که چېرته زما پلار له تا څخه خبر شي کېدی شي پوځ ته دې وسپاري، ځکه زما خسر د پوځ په باطلې نظریې ور ګډ وو.

خیر! پر سبا یې زه له کوره ووتلم، او د غره لاره مې غوره کړه، غره ته وختلم، غره ته په ختلو سخت ستړی شوم، پر لاره یو کلیوال دوکان ته ور وګرځېدم، هلته د دکان تر مخ څه خلک ناست وو، زما پر لیدو وترهېدل، ویل طالب خو یې، خو اوس ګرځه همداسې سرګردانه، د هغوی دې خبرو ته مې کوم التفات ونه ښود، ځکه معمولي تیروتنې هم زمونږ پلان ته زیان رسولی شو، له دوکانه مې بیسکټ را واخیست د غره پر لوري راهي شوم، هر څه پردي شوي وو، کلی، کور، خپلوان، ملګري، دا هر څه پردي وو، هیچا ته مو سترګې نه ور اوښتې، لږ چې پورته وختلم نو تیاره ډېره شوه، بیسکټ مې را واخیست، او له څه اوبو سره مې وخوړ، شپه مې همدلته په غره کې تیره کړه، په سبا ورځ بېرته بازار ته ښکته شوم، دا چې زما رنګ او شکل داسې ویل چې ګوندې طالب یم، نو مې د کوم کور دروازه نشوا ور ټکولی، ځکه هر کور به دا ګمان کاوو چې د پناه لپاره راغلی، او دې هم امکان لرلو چې پر داسې چا ورپېښ شوی وی چې هغه پخپله د

پوځ کس وی، په دې وختونو کې د پوځ اجنټان او جاسوسان بېخي پریمانه وو، ځکه چې کلی او کور ستا وي، او پوځ پکې داسې په خلاص لاس عملیات کوي، نو ضرور به دلته جاسوس لري، بازار ته له ښکته کېدو سره یو کلیوال دوکان ته ورکوز شوم، د دکان مخې ته څه کسان ناست ول، زما پر لېدو یې رنګونه بدل شول، ویل څه شی کوی دلته؟ ما ویل: وږی شوی یم، د خوراک لپاره څه شی ګورم، بېرته ځم، ما خیال وکړو چې دا خو دې خپل پښتانه ورونه دي، کېدی شي د مړی (ډوډی) ست درته وکړي، خو دوی د طالب په نامه هر آشنا کس د ځان دښمن بللو، ویل: ځان ورکوه، کنه پوځ ته دې لاس تړلی سپارو، د دوی په دې خبره ذره شک نه وو پکار، ځکه دلته د ځینو همدا چاره ګرځېدلی وه، د ځان د ګټې لپاره یې خپل پښتون ورور خرڅولی شوی، حیران دې ته یم چې پوځ په پښتون قوم کله اعتبار کوي، ځکه یوه ملګري کیسه کوله چې زمونږ د کلي ملک خپل طالب وراره پوځ ته د پېسو په مقابل کې لاس تړلی وروړ، خو کله چې پوځ د ملک دومره بیغرتي ولیده نو لومړی یې خپله ملک بندي کړ، ځکه پوځ ورته وویل چې ته خپل وراره نه پېژنې نو مونږ به څه وپېژنې!! خیر بیسکټ مې را واخیست بېرته د غره په لور راهي شوم، سخت ستړی او بې سیکه وم، هېڅ پناه ځای مو نشو پیدا کولی، هر څه راته د دښمنۍ سترګکونه وهل، په تېرو ډېرو پورته روان وم، پاس د غره له یوې ډډې چینه را بهیده، ویل مې راځه بیسکټ به هم وخوری او تنده به دې هم ماته شي، که دې څه خوب او استراحت وکړ، چینې ته تر رسېدو پورې مې بیسکټ تیار له پلاسټیک خلاص کړ، یوې غاړې ته کېناستلم، د بیسکټ یوه یوه پتره به مې په اوبو لمده کوله او خوړله به مې، لږ ساعت و، چې پر نس مې درد شو، درد زیاتېده تر

دې چې بیسکټ مې بېرته تر ستونی راوختل، پر معده مې هېڅ شی پاته نشول، نه پوهېږم چې څه وجه به وه؟ خو دا مرۍ زما روزي نشوه، یو څه وخت دلته معطل وم، ورو ورو د منګوري ادې (هدې) خوا ته ورښکته شوم، له کومه ځایه چې به پېښور ته ګاړي (موټرونه) تلل، کله چې هدې ته ورسېدم، زه د موټرانو په لټه کې شوم چې یوه زنانه دلته په هدېه کې سرګردانه ګرځي، داسې چې یا یې ماشوم ورک شوی وي، یا یې هم خپله غوټه او بکسه ورکه کړې وي، خو ما ځان د نورو موټرو تر شاه ترې پناه کړ، چې ښه ورته ځیر شوم نو ومې لیدل چې د زنانه بوټان هم په پښو نشته، نارینه وو باندې چې څومره تکالیف راشي بیا یې هم تحمل کولی شي، خو زنانه بیا پر سر د حیا پړونی لري، پښتنې چې په څومره سختیو ورګډې شي خو د حیا لوپټه یې په سر کلکه نیولی وي، دې هم لکه نابلده مرغۍ هر ځای ته به یې ځیر ځیر کتل، زما پرې پام و، چې کوم نارینه به یې ولید او فکر به یې وکړ چې ګوندې د دې شناخته دی، نو به قدم نیولی شوه، دا ځل زما خوا ته را روانه وه، ما هم له ځان سره وویل چې هر ډول کېږي آخر خو یوه مؤمنه ده، لږ چې را نېږدې شوه ګورم چې زما خپله میرمن ده، هماغه جامې یې پر تن وې چې له کوره د وتلو پر وخت ورسره وې، لاس کې یې د جامو پنډه کی و، ویښته مې ځېږه شول چې خدایه! دا څه پېښه ده؟ ورغلم او له لاسه مې ونیوله، غږیې لویدلی و، ژبه یې رېږدېدله، دومره ډاره شوی وه لکه له ښکاره تښتېدلی هوسۍ، ما ویل څه در شوي؟ یوه ارخ ته مې خپل څادر هوار کړ، لومړی مې تولو خواوو ته پام وکړ، ځکه کېدی شوی د پوځ مخبرین دلته هم رارسېدلي وي، پر څادر کېناستلو، ما ویل: څه در شوي؟ آخر څه پېښه شوی چې داسې لالهانده وې؟

خپله کیسه یې شروع کړه، ویل: کله چې تا د پلار کور ته ولېږلم نو هلته له رسېدو سره سم ما دروازه وټکوله، له هغې خوا غږ راغی: څوک یې؟ چې دروازه خلاصه کړه نو مور مې وه، ورغاړې وتم.

هغې ویل: لورې! څه کیسه ده؟ ولې ژاړې؟ ما مې مور ته ټوله کیسه وکړه، ویل: لورې پلار دې ویل چې خاوند یې طالب دی، خامخا به یې خاوند له نورو طالبانو سره درومي، چې پلانکی راغله نو په کور یې مه پرېږدئ. زه او مور مې په همدې خبرو کې وو چې پلار مې راغی، زه ورغلم چې ګوندې زما په راتګ به خوښ شي، هغه له لاسه ونیولم، او له کوره یې بیرون کړم، په قهرجن غږیې وویل: تاسو طالبان یئ، مونږ پرې تباه کوئ، زما له کوره ځه! خاوند دې دومره بې غیرته دی چې آن ستا د ساتلو توان نلري. ویل: په کومه لاره چې راغلې یې په هماغه لاره بېرته ځه، زمونږ په کور کې ستا او ستا د خاوند لپاره ځای نشته. پلار مې څه نورې بدۍ هم را پورې کړې، زه له ډېره قهره چغو نیولی وم، خو شاوخوا زمونږ تربرونه وو، په ځان مې د سکوت څادر خپور کړ، په شونډو مې مهر وواهه، او د پلار خبرو ته غوږ وم. هغه چې په وروستي ځل روانېدم پر پښو مې یو جوړ چپلکې وی، چې پلار مې راته اخیستې وی، هغه مې بېرته ور وکښلی، پلاره! دا دې در واخله، پر زړه مې سل رنګ کیسې تېرېدی، پر زړه به مې د غم سمندرونه څپو واخیستل، او شور به یې جوړ کړ، حد اقل یو پښتون پلار خو یې، د پښتنانه په کور چې دښمن ورننوځي پناه ورکوي، پاتې شوه خپله لور، دا څه رنګه پښتونولي ده؟ چې د باطل له ډاره آن پر خپل عزت معاملې ته تیار دی، ورکه دې شي دا د حجرې د کیسو پښتو، ورک دې شي هغه پښتون چې د خپلې خور او لور په عزت سر

فدا نکړي، هغه به څه ژلمي وي چې د خور پرونې يې پر ځمکه پروت وي او دی خوبونه کوي، هغو خويندو ته چې د باطل سره په مبارزه يې ميړونه د قربانۍ په لومړيو ليکو کې دي، دا وايم: هيڅ کله بې زړه نشئ، مونږ به د خپلو خاوندانو پرهرونه ګنډو، خپل ژامن به د هر ظالم سره د مبارزې لپاره چمتو کوو، زمونږ او تاسو په لاسونو کې د غيرت او ننګ ژانګو ايښې، ويښې اوسئ، حجاب مو له تنه د وخت دا بې بندوباره بادونه ونه شويوي، مونږ او تاسو د عربو له ميندو څه کمې يو، هغوی به د غزاګانو او جنګ ليکو ته خپل ژامن د قربانۍ لپاره لېږل، هغوی به خپلو ژامنو ته دا هم ويل: که دې پر شاه غشی لږېدلی و نو زه به خپلې سترګې ستا پر وجود ولې خواروم، د ميرانې درس به يې ورکاوو، د هغو ميندو کيسې هم واورئ چې کله به يې ژامن او خاوند له غازيانو سره يو ځای شهيدان شول، نو بيا به يې د خپلو ويښتو کوڅۍ د مجاهدينو لپاره هديه کولی تر څو د آس د کمچينې لپاره يې استعمال کړي.

اې زما خويندو واورئ!

بورې به شئ، کونډې به شئ، بمبار به شئ مګر د ظلم اور ته تسليم نه شئ، دا ومنئ چې د بې غيرتۍ له ژونده د غيرت يو ساعت ژوند غوره دی، مونږ او تاسو چې په اللّٰه او د هغه په رسول ايمان راوړی، مونږ ته په کار ده چې د بي بي فاطمې رضی اللّٰه عنها لار غوره کړو، د اسلام د لومړنۍ شهيدې حضرت سميې رضی اللّٰه عنها په څېر ځان جوړ کړو، د حضرت عائشه بي بي رضی اللّٰه عنها پر لار پل کېږدو، ولې د ملالې له کيسو نه ياست خبرې؟ مونږ او تاسو به يو ځل بيا د ننګ ټپې زمزمه کوو، يو ځل بيا به له خپلو نارينه وو سره د غيرت په نعره د تکبير ولولې بدرګه کوو.

زه د خپلې ميرمنې دومره ستر جرأت ته کوته په غاښ وم، له مونږ سره د کرايې پيسې هم کمې وې، خو د ټيټې بيې موټر کې کېناستو، ځانونه مو تر پېښور پورې ورسول، هلته زمونږ د ترور کور و، ويل مې: راځه هلته به ورشی، ګوندې ترور مې په راتلو خوشاله شي، دومره پوهېدم چې کور يې د درګۍ په کلي کې دی، هلته په رسېدو مو د ترور د کور پوښتنه وکړه، دا څو کلونه تېر وو چې د ترور کور ته مونږ نه وو راغلي، د هغې خاوند او اولادونه ما لا ليدلي نه وو، نو پېژندل به مې څنګه؟ د کلي لار مې ونيوله، له هر چا مې پوښتنه کوله، خو چا هم زما د ترور د کور ادرس رانکړ، پر لاره له يو ځوان ووړکي سره مخ شوم، پوښتنه مې ترې وکړه: دلته زمونږ د ترور کور دی، د پلانکي ځای ده، ويل: خاوند يې څه نومېږي؟ ما ورته ويل: د خاوند نوم يې نه راځي، خو ترور مو پلانکۍ (د ترور نوم ورته واخيست) نومېږي، د نوم په اورېدو سره د ځوان رنګ بدل شو، ويل: ته دې ترور پېژني؟ ما ويل: خود يې پېژني، ويل: د ترور کور ته دې کوم ځلې راغلی يې؟ ما ويل: نه، تر اوسه پورې خو نه يم راغلی، ويل: تا چې کوم نوم واخيست زه يې زوی يم.

لږ ورته ځير شوم، نو مې غېږ ورته خلاصه کړه، دواړو ښه په کلکه سترې مشې وکړه، تر ښه راغلاست وروسته ځوان مخکې شو، د يو کور دروازه يې خلاصه کړه.

ويل: راځئ! پر مور يې غږ وکړ چې مورې! له سوات څخه ميلمانه درته راغلي، د ترور مو چې پر مونږ سترګې ولږېدې وپوهيده چې زه طالب يم، داسې لنډه سترې مشې يې وکړه، بس په همدې دروازه کې يې را غبرګه کړه چې زما له کوره ووځئ.

ما چې هر څه دلاسا کړه او اطمينان مې ورکاوو، هيڅ کته يې ونکړه، لږ ساعت ناست وو، ميرمن مې

پوه کړه چې د تلو تابیا نیسه، د ترور له زوی مې زر روپۍ قرض کړې، او بغیر له خدای پامانۍ د ترور له دروازې په سختۍ ناهیلۍ رخصت شوو.

هوکې!

دا دنیا بدي او کوم شخصي تضاد نه و، مونږ چې د خدای جل جلاله لاره ونیوله، نو د ټولو دنیاوالو دروازې راپسې بندې شوې، هر چا ناهیلي کړو، هغوی چې پخوا زمونږ نږدې دوستان وو، اوس یې خپل دښمنان ګڼلو، مونږ هم کولی شو لکه د نورو آرام اوسېدلي وی، پر کور ناست وی، د غیر اللّه قانون مو منلی وی، میندې مو پته شوی وی، طاغوت ته مو سر ټیټ کړی وی، او د پوځ ظلمونه مو تر حلقه تېرولی، خو دا ورځ پر مونږ هم را روانه وه، چا چې د پوځ غېږې ته پناه یوړه، عزتونه او مالونه یې لوټ شول، دوی داسې ګڼله چې د پوځ ځینې جنرالان خو حد اقل پښتانه دي، خو چې کله آپریشن شروع شو، د پوځ لارې همغو پاکولی چا چې پر ژبه همدا درنه پښتو ویله، پر همدې درنو الفاظو به یې خپل سکه ورور ته د دهشتګرد نوم اخیسته.

ظالم ظالم وي، که ښه توب په ژبه او قوم وی نو به تر عربو ښه خلک نه وو، خو چې کله د اللّه رسول عربو ته د نېکۍ لارې لارښوونه کوله، لومړی همدې عربو انکار وکړ، د اسلام لومړنۍ وینه د عربو تر مینځ وبهېده، پښتون هغه وخت غیرتي وي چې مؤمن وي، پښتون چې ایمان ونلري بیا د خپلې خور د عزت پرونی څه کوي؟!

د ترور له کوره روان شولو، زمونږ توکل د کائناتو پر خالق و، پوهېدم چې زمونږ لاس به نیسي، پوهېدم

چې د دې سترپاوو تر شا لوی حکمت پروت دی، پر زړه مو د صبر ډبرې کېښودی، پخوا مې په دې علاقه د یوه مجاهد ملګري نمبر له ځان سره ساتلی و، اړیکه مې ورسره ونیوله، له پیژندګلوي وروسته یې د کور ادرس راکړ، هلته ورغلم، د هغه ژوند هم له سختو ستونزو تېرېده، ځکه زمونږ د فکر او نظریې ملګري هر ځای د دښمن تر تعقیب لاندې وو، ویل: څه پلان لرې؟ ما ورته خپله خبره وکړه، خو هغه چې خپل حالت بیان کړه نو ورته ومې ویل: ښه دا ده چې له دې ساحې په خیر ولاړ شو، کېدی شي تا ته هم ستونزې جوړې شي.

ملګري: ویل سمه ده، زه مو د تلو بندوبست کوم، ملګري مو زمونږ د تلو ترتیب وکړ، زمونږ د تلو ځای د خیبر دره وه، له میرمنې سره یو ځای مو د خیبر ایجنسۍ لار ونیوله، خیبر ایجنسۍ ته په رسېدو مو ایله د آرام ساه واخیسته، دلته نور مهاجرین هم وو، چې زمونږ تر ژوند یې لا تریخ داستانونه له ځان سره راوړي وو، خو دومره وس او توان به څوک ولري؟ هغه به کومې ګوتې وي چې د دې مظلومو داستانونو لپاره د قلم پر نوکه خپلې ګوتې وڅرخوي.

لومړۍ برخه

ليکوال: الشيخ انور العلوقي رحمه الله

ژباړه: ابو قتاده



په جهاد کې د ګډون او شـريکېدو طريقې او شـرعي حل لاره

(۱) د مجاهد جوړېدو غوښتنه

په جهاد کې د شريکېدو لپاره لومړۍ له زړه څخه دا خواهش کول چې ته هم د مجاهدينو په صف کې د کافرانو سره وجنګېږه. رسول الله فرمايلي: څوک چې په داسې حال کې مړ شو چې نه يې جهاد کړی وو او نه يې په زړه کې د جهاد خواهش و نو د نفاق په يو حالت ومړ. (مسلم)

د دې خبرې اندازه لګول چې ستا په زړه کې د جهاد خواهش شته او کنه؟ د قرآن کريم له دغه آيت څخه مرسته اخيستلی شی، الله فرمايلي: [وَلَو أَرادُوا الخُروجَ لَأَعَدّوا لَهُ عُدَّةً] [التوبة: ٤٦] که دوی جهاد ته د وتلو اراده لرلی نو جهاد لپاره به يې څه تياري کړی وی (نو که تاسې تر اوسه جهاد لپاره کومه تياري، ټرينګ وغيره نه وي کړی نو بيا به ستاسې دعوی دروغجنه ده)

دفاعي جهاد لپاره علماء کرامو پنځه شرطونه بيان کړي، لکه ابو قدامه رحمه الله ليکلي چې سړی به مسلمان وي، بالغ به وي، غريب او معذور به نه وي، د غريب سړي عذر به هغه وخت منلی شي چې بل څوک ورسره مالي مرستې ته تيار نه وي، يو چا ته که د سخت مريض عيادت ورپه غاړه وي هغه به هم معذور ګڼلی شي. خو که د يو چا په زړه کې د جهاد خواهش هم نه وي نو د الله په دربار کې داسې عذر قبول ندی، ځکه چې الله په سورة توبه کې فرمايلي: [وَلا عَلَى الَّذينَ إِذا ما أَتَوكَ لِتَحمِلَهُم قُلتَ لا أَجِدُ ما أَحمِلُكُم عَلَيهِ تَوَلَّوا وَأَعيُنُهُم تَفيضُ مِنَ الدَّمعِ حَزَنًا أَلّا يَجِدوا ما يُنفِقونَ] [التوبة: ۹۲]

په همدې ډول پر هغو خلکو باندې هم د کوم اعتراض ځای نشته چې په خپله راغلي او ستا څخه يې غوښتنه کړې وه چې: زمونږ لپاره دې سورلۍ برابرې کړی شي، او کله چې تا وويل چې زه ستاسې لپاره سورلۍ نشم برابرولی، نو هغوی مجبور شول، بېرته لاړل، او حال دا و چې د هغو له سترګو اوښکې بهېدلی، او په دې خبره ډېر ځوريدل چې په خپل مصرف سره په جهاد کې د ګډون کولو وس نلري.

(۲) له الله څخه د شهادت سوال کول

د مسلم شريف روايت دی، رسول الله فرمايلي:

«څوک چې په اخلاص سره له اللّه څخه د شهادت دعاء غواړي، اللّه به ورته د شهادت درجه ور په برخه کړي، اګر که هغه په خپله بستره ومري. (مسلم)

د شهادت دعا هم اللّه ته ډېره خوښه ده، ځکه چې څوک د شهادت دعا غواړي، معلومېږي چې د خدای په لاره کې ځان قربانول غواړي، خو فکر کول پکار دي چې دغه دعا مو فقط په شونډو پاتې نشي، هرڅوک چې له اللّه څخه شهادت غواړي نو هغه به د جهاد هرې نعرې ته لبیک وایي، او د اللّه په لاره کې به د مرګ په لټون کې وځي، څومره مسلمانان د شهادت دعاګانې کوي، خو زه حیران یم چې عمل یې څومره د خپلو دعاګانو مخالف دی؟

نن چې د اللّه دښمن پر مسلمانانو غالب دی، او د مسلمانانو په علاقو کې یې قبضه کړې، اصل وجه یې هم دا ده چې د شهادت له مینې څخه زمونږ زړونه خالي شوي، رسول اللّه فرمایلي چې نېږدې ده چې خلک په پر تاسې د حملې لپاره یو بل داسې رادعوت کوي لکه دسترخوان ته چې وږي را دعوت کېږي، صحابه کرامو رضي اللّه عنهم اجمعین وپوښتل: یا رسول اللّه! هغه وخت به مونږ په شمېر کې لږ وو؟ رسول اللّه ورته وفرمایل چې نه تاسې به بیخي ډېر وی، خو ستاسې حالت به د سمندر د ځګ په شان وي، او اللّه به ستاسې د دښمنانو له زړونو څخه ستاسې هیبت وباسي، او ستاسې په زړونو کې به وهن واچوي، صحاباو وپوښتل: وهن څه شی دی؟

رسول اللّه ورته وفرمایل: د دنیا مینه او له مرګ نفرت.

زما خوږو ورونو! شهادت زمونږ او ستاسې د دین اسلام د ارشاداتو یوه لویه حصه او د اللّه جل جلاله له لوري په خپل بنده باندې یوه لویه پیرزوینه ده، هماغه و چې نبي کریم صلی اللّه علیه وسلم به همېشه شهادت تمنا کوله.

راشئ! چې خپل تاریخ بیا راژوندی کړو، ځکه چې د اللّه دښمنان د مجاهدینو د شهادت او د مرګ شوق او عشق څخه سخت په ډار او لړزان کې دي.

(۳) په مال سره جهاد کول

په قرآن کریم کې چې چېرته اللّه د ځاني جهاد تذکره کړی، له یوه آیت پرته هرځای کې یې ځاني جهاد سره د مالي جهاد تذکره هم کړې، له دېنه د مالي جهاد د اهیمت اندازه کېدلی شي چې جهاد څومره په مال پورې اړه لري؟! که وویل شي چې مال نه وي نو جهاد به نه وي، نو کومه بده خبره نده.

امام قرطبي رحمه اللّه په خپل تفسیر کې لیکلي دي چې د صدقې ثواب اللّه لس چنده زیاتوي، خو په جهاد کې چې کوم مال صرف کېږي د هغه ثواب ۷۰۰ چنده زیاتېږي.

اللّه فرمایلي: مَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِى كُلِّ سُنۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضٰعِفُ لِمَن يَشَاءُ وَاللَّهُ وٰسِعٌ عَلِيمٌ [سُورَةُ البَقَرَة : ۲٦۱]

ژباړه: کوم خلک چې خپل مالونه د اللّه په لار کې لګوي، د هغو د لګښت مثال داسې دی لکه چې یوه دانه وکرل شي، او له هغې څخه اوه وږي زرغون شي، او په هر وږي کې سل دانې وي. په همدې ډول کله چې د چا عمل ته د اللّه خوښه شي، زیاتوالی پکې راولي. اللّه هم پراخوونکی او هم د علم څښتن دی.

خاص هغه مسلمانان وروڼه چې په بیرون ملکونو کې اوسیږي، هغوی لپاره نن سبا په جهاد کې د ګډون کولو بهترینه طریقه دا ده چې هغوی خپل مالونه په جهاد کې صرف کړي، ځکه چې کله کله جهاد لپاره له مجاهدینو نه زیات د مال ضرورت وي، د شیخ عبداللّه عزام رحمه اللّه مقوله ده، هغه وایي: مسلمانانو ته د جهاد ضرورت دی، او جهاد ته د مال ضرورت دی.

(٤) مجاهدینو لپاره چنده راټولول

په جهاد کې له خپل مال نه علاوه نور خلک هم مالي جهاد ته راپارول پکار دي، رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم فرمایلي: چا چې بل چا ته د نیکۍ لار وښودله دی به هم د عمل کونکي سره د دې عمل په ثواب کې برابر شریک وي، نورو ته د جهاد بالمال ترغیب ورکول په اصل کې د رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم په سنت عمل کول دي، ځکه چې ډېر ځله رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم جهاد ته د تلو په وخت خلکو ته د جهاد بالمال ترغیب ورکړی، نن هم جهاد ته د ډېر زیات مال ضرورت دی، نو باید مونږ تاسې په جهاد کې فقط خپل مال خرڅ نکړو، بلکې خپلو ملګرو او خپلوانو ته هم د جهاد بالمال ترغیب ورکړو.

(٥) مجاهدینو سره معاشي کومک کول

په مجمع الزوائد کې راغلي چې رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم فرمایلي چې چا مجاهد ته خرڅ، خوراک او سامان برابر کړ هغه هم جهاد وکړ.

په دې کې د مجاهد هر ډول مصرف شامل دی، یعني د وسلو او نورو جنګي مهماتو تر څنګ د مجاهد د استوګنځي، خوراک څکاک او د سفر وغیره مصارف زغمل، د دې عمل په مټ هر غریب او امیر په ثواب کې برابربېدلی شي، یعني مالدار که یو غریب مجاهد سره مالي مرسته وکړي نو د غریب مجاهد په ثواب کې به دغه مال خرڅ کوونکی هم مکمل شامل وي، ځکه په بخاري شریف کې دي: رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم فرمایلي: چا چې د خدای په لاره کې جنګېدونکي مجاهد ته د جنګ سامان برابر کړ هغه هم په جهاد کې شریک شو.

نور بیا...!

د انقلاب بابا

لیکوال: هاشم سادات

د ډېره اسماعیل خان په زندان کې د تورو پنجرو تر شا یوه ورځ قیدیانو خپل مینځ کې له یو بل څخه د خپلو جرمونو په اړه پوښتنې کولی، چې څوک په کوم جرم زندان ته راغلی دی؟

څوک د غلا، څوک د قتل، څوک د جنګ جګړې، څوک دې ته ورته، دغسې په نورو جرمونو کې د زندان میلمانه وو.

یو ښائسته نوراني سپین ږیری بابا د زندان په یو ګوټ کې غلی ناست و، د نورو قیدیانو خبرې یې اورېدلی، د قیدیانو چې کله د بابا په لور پام شو نو خوا ته یې ورغلل، پوښتنه یې ترې وکړه، بابا! تهٔ په کوم جرم کې زندان ته راغلی یې؟

بابا مُسکی شو، ویې ویل: زما جرم ډېر غټ دی، داسې جرم مې کړی دی چې د دنیا یو صابن هم د هغه جرم داغ نشي پاکوالی، قیدیانو په حیرانتیا یو بل ته وکتل، بیا یې له بابا څخه پوښتنه وکړه، آخر دا کوم جرم دی؟

بابا ویل: دا داسې جرم دی چې زهٔ یې بار بار کوم. ګورئ! تاسو به د خپلو جرمونو ټاکلې سزا تېره کړئ، خپلو کورونو ته به لاړ شئ، خپل عادي ژوند به کوئ، خو زهٔ یو داسې مجرم یم که نن له زندانه خوشې شم، سبا بیا دا جرم کوم، او دا جرم به د ژوند تر آخري سلګۍ پورې کوم.

قیدیان نور هم حیران شول، آخر دا کوم جرم دی؟ بابا!

بابا د قیدیانو په لور سترګې راواړولې، په دردونکي لهجه یې وویل: زما جرم دا دی زهٔ پدې وطن کې د جمهوري نظام خاتمه او د دې په ځای شرعي نظام غواړم.

زهٔ وایم: پاکستان د لا اله الا اللّٰه په نوم ازاد شوی دی، نو بیا ولې پکې اسلامي نظام نهٔ نافذېږي؟ زما دا جرم دی، او په دې جرم زندان ته راغلی یم، که حکومت مې نن لهٔ زندانه خوشې کړي، سبا په ممبر بیا دا جرم کوم، او دا جرم به تر هغې کوم چې ترڅو پاکستان کې اسلامي نظام نه وي راغلی، او یا یې زهٔ شهید کړی نه یم.

قیدیانو یو بل ته وکتل، د بابا په خبره ډېر حیران او تعجب واخیستل، چې مونږ د خپل ځان په غم غمژن یو، په شخصي معاملو کې قید یو، او بابا د اللّٰه تعالی د دین په خاطر په سپینه ږیرهٔ د زندان په پنجرو کې تکلیفونه ګالي.

دا سپین ږیری بابا ستر علمي شخصیت شیخ الاسلام ابن تیمیه ثاني، شیخ القران والحدیث مولانا ولی اللّٰه کابلګرامي شهید رحمه اللّٰه و. شیخ صیب چې قیدیانو ته د ځان په اړه کومې



خبرې کړې وې، دا فقط د خولې خبرې نه وې، بلکه شیخ صیب د عمل او میدان سړی و، او هغه خبرې یې په خپل عمل سره ثابتې کړې.
کله چې له زندانه راخلاص شو خپل دعوت ته یې بیا ادامه ورکړه، شیخ صیب یو دلیر، بهادر او شجاع انسان و، څنګه چې شیخ صیب ته اللّه علم ورکړی و هم دغسې ورته غټ زړهٔ هم ورکړی و، د هیڅ چا څخه به یې ویره نه کوله، د حق خبره به یې برسرِ ممبر په جهر کوله، شیخ صیب د (لایخافون لومة لائم) رېښتینی مصداق و.
یو خصوصیت د شیخ صیب دا و چې شیخ صاحب به د وخت تقاضې پېژندلی، چې د کومې مسئلې ضرورت به و شیخ به بِلا خوف و خطر هغه مسئله په جهر کوله.
کله چې خلک په ناپوهی شرک او بدعاتو کې اخته وو، شیخ صیب رحمه اللّه به هغه وخت د توحید نغمې غږولی، د توحید او سنت دعوت کې شیخ صیب رحمه اللّه د مختلفو تکلیفونو سره مخ شو، خو خپل دعوت څخه په شا نشو.
شیخ صیب رحمه اللّه به چې کله چا د بیان د پاره بوتلو شیخ صیب به همېشه په خپلو بیانونو کې په جمهوریت رد کولو، او د اسلامي نظام خبره به یې کوله.
هم دغه وجه وه چې شیخ صیب د فوځ لخوا دوباره ګرفتار کړلی شو، د شیخ صیب مدرسه ظالم فوځ په بارودو ونړوله، په زندان کې فوځ په شیخ صیب باندې ډېر کوښښونه وکړل چې شیخ صیب جمهوري نظام ته سم ووایي، او د دې نظام پر خلاف مسلح جهاد کوونکو ته بد ووایي، خو شیخ صیب په خپله خبره کلک ولاړ و.
ستا تور زندان زمونږ فکرونه بدلولی نه شي مونږ په زنځیر کې هم اواز د شریعت کړی دی
آخر ځمکې اسمان هغه ورځ هم ولیدهٔ چې په ۸ دسمبر۲۰۱۰ د دغه لوی علمي شخصیت جنازهٔ لهٔ زندانه کور ته راغله، د ډېره اسمعیل خان په زندان کې چې شیخ صیب قیدیانو ته کومه خبره کړې وه هغه خبره یې رښتیا کړه، په هسکه غړی له دنیا نه د شهادت په دروازه رخصت شو، خو د وخت ظالمانو ته یې سر ټیټ نکړ.
رب متعال دې د شیخ صیب شهادت مقبول وګرځوي، او مونږ دې اللّه تعالی د شیخ صیب د لارې لارویان جوړ کړي. امین ثم امین

د اسلام آباد له نړیوال پوهنتونه – د استشهاد په سفر

لیکوال: عاصم سعید لاهوري

ژباړن: عزیز الدین مصنف

(لومړۍ برخه)

زمونږ کور د پنجاب په یوه سوزونکې علاقه کې و، دا د ۲۰۰۱ زیږدیز کال لومړنۍ میاشت وه، ما له کالج څخه امتحان ورکړ، وروسته د اسلام آباد په یوه پرمختللي پوهنتون کې جذب شوم، د کور مصارف مو د پلار په غاړه وو، پلار مو د کلي رمه څروله، زه یې دریم زوی وم، مشر ورور مو نجیب نومېده، نجیب مولوي و، هغه د پښتونخوا په یوه دیني مدرسه کې لویه دوره کړې وه، تر فراغت وروسته له کلي څخه په کمه فاصله کې د یو کلیوال جومات ملا و، ورسره یې کلیوالو ماشومانو ته د انګرېزي او کمپیوټر کلاس هم خلاص کړی و، دوهم ورور مو اختر ملک د دوبۍ مسافر و، او دریم ورور مو شعیب له ما کشر و، ژوند روان و، خدای شته، د پنجاب په دې لمریز اقلیم کې د کور اقتصادي ستونزې حل کول د هر چا لپاره سرخوږی دی، هر څوک پر خپلو ورځنیو چارو بوخت وي، کلیوال پر مذهبي چارو کې ډېر مخته نه ځي، پنځه وخته لمونځ او نور فرائض ادا کوي، د مړي او ژوندي مسائل یې د پاکستان له نورو علاقو سره دومره توپیر نلري، ملا امامان هم د نکاح او پنځه وخته لمانځه تقسیم اوقات لري، د حکومت مذهبي قوالي ښې په درز کې چلېږي، د روژې میاشت را ورسېده، مشر ورور ته مو کلیوالو ویل چې مونږ ته د قرآن کریم د ترجمې درس شروع کړه، هماغه و چې د سهار له لمانځه وروسته تر لمر ختو پورې مو ورور د قرآن کریم ترجمه شروع کړه، د سورة انفال په درسونو کې مو ورور د جهاد په مسائلو ښه تحقیقي بحث وکړ، هر یو آیت یې د کلیوالو پر زړونو ولوېد، دوهمه ورځ د جهاد بحث بیا ادامه پېدا کړه، نن مو پر سبق کې یو نوی برېتور تک تور سرې تازه را پیدا شوی و، زما پرې پام و، چې د سبق په مینځ کې به یو ځل بیرون ووتلو، تر درې ځل وتلو وروسته، د سیمي تانه دار را ورسېده، زمونو ورور یې د ټولو په مخ کې ولچک کړ، همدغه څو ورځو کې زما د پوهنتون د تلو وخت برابرېده، د ورور له زنداني کېدو سره زما د پوهنتون موده هم وځنډېده، پلار مې ډېر تاکید کاوو چې ولاړ شه زویه، پوهنتون دې ځنډېږي، خو ما د ورور د خلاصون هڅې کولی، زه به چې تانې ته ورغلم هغوی به همدا یوه خبر راته کوله، چې ستاسو ورور له دهشتګردو سره لاس لري، د کلي هلکانو ته یې د خلکو د وژلو کیسې



کړي، خو د پلار له تأکید سره سره د وروړ تر خلاصېدو منتظر شوم، د کلي امامت زمونږ یو بل کلیوال حافظ محمد پر غاړه واخیست، او پاتې عصري سبقان یه ما خودل، مولوي وورته مو یې پوره درې میاشتې زندان ورکړ، چې راخلاص شو، رنګ یې سپین تښتېدلی و، پر وجود یې ټکی غوښه نه وه، د وروړ تر خلاصون وروسته مو د کور وضعه بېرته سره برابره شوه.

زه پوهنتون ته ولاړم، د پوهنتون داخلې پوره پنځلس ورځې وخت ونیو، ورپسې درسونه شروع شول، کله چې لومړی سمسټر خلاص شو د دوهم سمسټر په رخصتۍ کور ته راغلم، ما لا واده نه وو کړی، د کور څخه بیرون حجره کې به اوسېدم، هوا ګرمه وه، کټ مې را واخیست د حجرې مخته په چوتره ویده شوم، د شپې تقریباً لس بجې وې، د چا د پښو ترپا مې تر خوړ شوه، مخامخ زما پر لوري دوه تور سیوري راښکاره شول، زمونږ د حجرې پر لور را روان وو، وډار شوم، کنې زمونږ له هیچا سره بدي نه وه، سیوري رانږدې کېدل، ما ځان پر خوب واچاوه، راغلل سرته مې ودرېدل، یو بل ته ویل: ورور یې دی، ویده دی، راځه هغه به هم همدلته منتظر وي، عجیبه صحنې سره مخ وم، دواړه کسان مخته تېر شول، هلته زما ورور نجیب تیار ورته ولاړ و، درې واړه سره ورک شول، داسې پنځه منټه (دقیقې) وروسته زه هم ورپسې وخوزېدم، چې خبرې یې را رسېدلی، دواړو کسانو مې ورور ته د پېسو وړاندیزونه وکړل، چې له مونږ سره کار وکړه، خو وروړ به مې هم دا یوه خبر ورته کوله چې زه یو عادي ملا یم، ما تعلیم د اللّه لپاره کړی، ډېر ساعت بحث روان و، دواړه کسان پر خپله مخه ولاړل، ورور مې هم د کور لار ونیوله، کور ته د ننوتلو پر حال مې غږ پرې وکړ: لالا!

زما له غږ سره یې له پښو دمه ووته، ور نږدې شوم، ورته ومې ویل: دا خلک څوک ول؟ او څه یې غوښتل؟

لالا ویل: ترې تیرېږه، څه یې کوی؟

له ډېر تأکید وروسته لالا له لاسه ونیولم، او حجرې ته یې یوړوم، ویل: غوږ شه شریفه!

دا دواړه د پوځ استخباراتي کسان دي، ماته وایي چې د ژوند ټول امکانات به درته برابر کړو، مونږ ته کار کوه.

ما ورغبرګه کړه: لالا! دوی څه رقم کار غواړي؟

ویل: لیونیه، دوی وایي چې ته خلکو ته وایه چې پوځ د اسلام لپاره جنګېږي، او هر څوک یې چې خلاف وي هغه باغي دی. بس همدومره!

لالا! ستا څنګه اراده ده؟

ویل: زه خپل سبقونه د پوځ لپاره په دې سپیرو کلدارو خرڅ کړم؟

ته نه ګورې! چې بابا اوس هم رمه پیایي، ته نه ګورې چې بابا به ماته هر وخت ویل: زویه! زه دې نه بښم که تا د باطلو ملا وترله.

شریفه! که مې بابا وبښي خدای مې نه بښي.

زما او د لالا بحث تر سهاره وغزېده، لالا ما ته ویل چې ته خپل پوهنتون وایه، زما په کارونو کار مه لره، زه له دوی سره په خپله ژبه پوهېږم، پر دوهمه جمعه یې زه پوهنتون ته ولاړم، دوهم سمېسټر پیل شوی و، لالا څو ځلې نور هم د تانه دار لخوا جلب شوی و، هره شپه به مې ګډوډ خوبونه لیدل، سختو اندیښنو اخیستی وم، رنګ مې بدل و، د پوهنتون ټولګیوالو به ویل: څه در شوي؟ بس خپل درد مې پر سینه پټ ساته، یوه ورځ پر سبقانو مصروفه وم، چې ملګری مې راغی، ویل: له کوره ټیلفون درته راغلی، چې ورغلم ټیلفون مې اوکې کړ، مورکۍ مې وه، تر روغبړ وروسته یې راته وویل: شریفه زویه! لالا دې دا یوه جمعه کېږي ورک دی، زمونږ ډېره ورته اندیښنه ده، ته دې په ځان پام کوه.





دوهمه جمعه بیا له کوره ټلفون راغی، د تره زوی مې و، ویل چې عاجل کور ته ځان راورسوه، زمونږ کور ته تقریباً ورځ مزل و، تر څو چې زه کور ته راغلم د لالا لاش (جسد) پر چوتره (برنډه) ایښی و، زما مور خور او د کلي نورو ښځو چغې پرې جوړې کړې وې.

د پوهنتون بیک (بکسه) مې پر حجره وغورځاوه، کلیوال مو بیرون د دیوالونو سیوري ته ناست ول، ساعت وروسته مو لالا هدیرې ته یووړ، د جنازې او دفن کېدو مراسم یې خلاص شول، ماذیګر مهال و، د لالا پر قبر مې زه او پلار پاتې شو، له پلار نه مې پوښتنه وکړه، چې په لالا باندې څه شوي و؟ ویل: زویه! ماسخوتن جومات ته روان وم چې د کور مخ ته د لالا لاش (جسد) پروت و، نور معلومه نه ده چې چا به وژلی وي، زه پر کیسه ورسېدم، چې لالا چا او ولې وژلی؟ لالا مو خپل سبقان او تعلیم خرڅ نکړ، نو ځکه یې شهید کړ.

د دوبۍ مسافر ورور مو هم سخت خواشینی و، ما هم له ډاره کورکې د لالا د شهادت اصلي کیسه نشوی کولی، ځکه سبا به زما لاش هم د کور مخې ته پروت و، پوهنتون ته مې هیڅ زړه نه کېده، د کور حالات هم خرابه شول، پلار مو د رمې له پېولو بې وسه و، د کلي رمه مو بېرته تقسیم کړه، ما له کلیوالو سره مزدوري کوله، شعیب به سکول ته تللو، د دوبۍ مسافر هم را ورسېده، کال به نه و پوره شوی، پلار مو وفات شو، د کور سرپرستي مو مسافر ورور ته ورپاتې شوه، د هغه د دوبۍ رخصت (چټیانې) هم پوره شوی، زړه یې نه کېده، زما او د مور مې ډېر تأکید وو چې ولاړ شه، ورور مو بېرته په مسافرۍ ولېږه، د ۲۰۰۳م کال ځلورمه میاشت وه، د کلیوالو سره په مزدوري لږیا وم، چې د کلي مامور استاد آصف له ځان سره اخبار راوړل، ما اخبار ترې واخیست، ویل: شریفه! وګوره تا خو هم سبقونه لوستي، اخبار مې کتلو چې په اخبارکې مې یو خبر تر سترګو شو، لیکلي یې وو:

دیارلس دهشتګرد قتل شول، لاندې یې ورپسې لویه پرپره لیکلې وه، خو د هر دهشتګرد د نوم په سرکې به د شیخ او حافظ کلیمه وه، کیسه راته جالبه غوندې شوه، له ځان سره مې وویل چې عجیبه ده، حافظ او شیخ دهشتګرد...!!

لا به میاشت نه وه اوښتې چې زمونږ د یوه نږدې کلیوال لاش (جسد) یې راوړ، تر دریو کلونو مړې او ژوندي ورکې وروسته د میر علي لاش کلي ته راغی، میر علي له پوځ سره په جنګ کې شهید شوی و، حکومت یې د جنازې اجازه ورنکړه، میر علي د کلي څو سپین ږیرو خاورو ته وسپاره، د جنازې او تدفین وروسته یې ورور ته ور په څنګ شوم، ورته ومې ویل: مرتضی وروره دې چرته شهید شوی و؟ په شونډو یې د شهادت ګوته کېښوده، ویل: چپ! څنګ ته یې کړم، کیسه درته کوم، اوس یې وخت نه دی.

پر سبا سهار وختي د میر علي دوی کورته ورغلم، د ورور کیسه یې په څو لنډو خبرو کې را ټوله کړه، ویل: شریفه!میر علي چې درې کاله مخ کې تړی تم و، زمونږ هم ورسره رابطه قطع وه، خو له نادرکې تر مخ یوه ورځ یې دا خبره ماته وکړه، که زه نه وم نو زما پوښتنه د تحریک له یارانو کوه، بس خلاص.

میر علي تقریبا میاشت د مخه شهید شوی و، خو دا یوه میاشت یې جسد لا هماغسې تازه و، تا به ویل پرون لږېدلی، بس پر ذهن مې د تحریک نوم پرېوت، تا به ویل چې چا مې رګ رګ کې د تحریک نوم پېیلی، هېڅ مې له ذهن څخه نه ووت، دا څه ډول خلک دي، چې مړي یې تر میاشت تېرېدو وروسته بیا هم تر او تازه وي.

ادامه لري...!



د جمهوریت او ډیموکراسۍ پنځلس غیر اسلامي اصول او اساسات

لیکوال: عمار احرار



۱:- حاکمیت د عوامو لپاره دی. ۲:- د دین او عقیدې آزادي ده.

۳:- د اختلاف او تنازع په صورت کې به عوامو ته رجوع کېږي. ۴:- د نظر او رایې آزادي ده.

۵:- د دین (مذهب) او ریاست (حکومت) ترمنځ هېڅ تناسب نشته او تل باید جدا وي.

۶:- د ټولنې هر فرد ته شخصي آزادي ده.

۷:- د سیاسي ډلو ټپلو جوړولو عامه تامه آزادي ده.

۸:- ټول قوانین او مقررات به د خلکو د اکثریت په بنیاد وي، اگر که شرعي قوانین ولې نه وي.

۹:- د مال حقیقي مالکان او څښتنان عوام خلک دي.

۱۰:- ښځه او نر په ټولو اصولو کې سره برابر او مساوي دي.

۱۱:- د کافر، منافق، مشرک او مسلمان ترمنځ به مساوات وي، مثلاً که یو طرف لس پرهیزګاره مسلمانان وي او بل طرف دولس مشرکان، نو ۱۲ کسانو ته به اهمیت ورکول کېږي، پداسې حال کې چې دا د قطعي نصوصو خلاف نظریه ده، او پدې اړه اللّٰه تعالی په خپل کتاب قرآن کریم کې ځای په ځای د دواړو تمیز او حیثیت بیان کړی دی.

۱۲:- زنانه کولی شي چې ولسمشرۍ او یا ښکته څوکیو او حکومتي مسؤلیتونو ته د انتخاباتو له لارې ځان کاندیده او یا نوماند کړي. پداسې حال کې چې په اسلام کې د دې سخت وعید بیان شوی دی.

۱۳:- که هر څومره اعلی، پرهیزګار او متقي مسلمان شخص ولسمشرۍ ته کامیاب شي بیا به هم د لوړو قوانیو مقنن او فېصله کونکی جمهوري طاغوتي پارلمان او ملل متحده وي او قران به اساسي قانون نه وي.

۱۴:- په جمهوریت کې به د سیکولریزم د عقیدې څښتن اوسې، مثلاً که ستا وطن کې هر څومره غټ کافر وي وژل یې ناروا دي، د اوسېدو حق لري، خو د بل وطن اعلی مسلمان هم خارجي ګڼل کېږي، پیغمبر صلی اللّٰه علیه وسلم د خپلې کورنۍ مشرکان هم وژل، او د بل وطن مسلمانانو ته یې ځای هم ورکاوه.

۱۵:- د حاکمیت اصول او قانون به پارلمان کې د عوامو د اکثریت او خواهشاتو په اساس جوړېږي.

د اللّٰه تعالی کتاب او د نبي کریم صلی اللّٰه علیه وسلم احادیثو او سنتو ته پکې هیڅ اهمیت نشته، ځکه جمهوریت د اسماني او الهي قانون په توګه څه نه پېژني، او دا حق د اللّٰه په ځای انسان ته ورکوي.

مهمه یادونه: دغه ذکر شوي اصول په ښکاره توګه غیر اسلامي اصول دي، چې یو مؤمن مسلمان یې هیڅ کله نه شي قبلولی. او دا حق تاته اوس وخت کې څوک په ممبر ویلی هم نشي، ځکه چې همدا غیر اسلامي حکومتونه یې تر مرګ رسوي.نو اې ځوانه! هېڅکله دا مه وایه چې دا دومره علماء ولې ورباندې چپ دي؟!

د دې نه وروسته د ووټ اچوونکي، د خپلې خوښې کاندید ټاکوونکي او په انتخاباتو کې برخه اخیستوونکي سره هیڅ حجت نه پاتې کېږي.

د استشهاد له منارو د دیدار تر تلوسو!

لیکوال: سیف الدین هلال

په رېږدېدلیو قدمونو د کوټې خوا ته ور روان شوم، پلا مې د دسترخوان په بر سر ناست و، وروځې یې پورته کړې، د سترګو سپین یې راباندې درانه ولږېدل، ما هم لاس ومینځل، د پلار تر څنګ کېناستم، ذاکر به د سترګو له کونجونو په تمسخر را وکتل، او په مکرجن انداز به یې پوښته کړم، چې پلار ښه درته غصه دی ـ زمونږ پلار د ورې دورې درسونه خلاص کړي وو، له دې سره له دوه کلن انسټیټیوټ څخه هم فارغ و، د حالاتو پر نزاکت تر ټولو ښه پوهېده، د نورو په مخ کې یې هېڅکله ماته ستغه خبره نه ده کړې، پر دسترخوان مو د کورنۍ نور غړي هم راټول شول، ټولو په ګډه ډوډۍ وخوړه، دعاء وشوه، تر دسترخوان ټولېدو وروسته مې پلار پوښتنه وکړه: چېرته وی زویه؟

ورته ومې ویل: پلاره له یو ټولیګوال سره وم، نوم مې یې ځکه وانخیست چې کېدی شوی پلار مې موضوع تعقیب کړی وی.

ویل زویه! دا دې باید عادت وي چې هر وخت تر ماښام د مخه کور ته راځه، خپله هوښیار سړی یې، د مکتب درسونه دې هم تعقیبوه، هو رښتیا معلم صمد مې ولید، ویل: شاباس دې وي او پر تا دې وي، انس ورځ تر بلې تکړه کېږي، زمونږ ټوله لیسه (مکتب) پرې ویاړي، تر ۹ بجو له پلار سره ناست وم، د پلار تر خوږو خبرو وروسته د خوب کوټې ته وختلم، د ماسخوتن د لمانځه لپاره مې اودس کولو چې د صلاح الدین څېره مې پر زړه را وورېده، هسې سلګو واخیستم، د خونې (کوټې) دروازه مې ورو بنده کړه، تر اوداسه وروسته کېناستم او پر ژړا مې زړه ښه سترې کړ.

آخر هغه کومه خوښي ده چې صلاح الدین یې ورتګ ته دومره بیړه لري؟ دا نو کوم ډول ارمان دی، چې ور رسېدل له زغمه وتلي دي.

آیا د صلاح الدین پلار له دې حالته خبر دی؟

آیا مور یې نه ده ورته غمجنه؟

صلاح الدین خو لا کوچنی دی، د هغه د سبقونو وخت



دی، زړه کې به مې کله کله را وګرځېدل چې ورشم، او پر دې شپه کې ښه ډېر نصیحتونه ورته وکړم، ورته ووایم چې ستا د سبقونو وخت دی، لا خو کوچنی یې، مه ځه! چې لوی شی بیا چې هر څه کوی خوښه دی، خو چې د صلاح الدین هغه نوراني بشر، توري سترګې، پراخ تندی او مسکینه څهره به مې مخته ودرېده زما ټول نصیحتونه به اوبو یوړل، صلاح الدین تر ما پر سبقونو ډېر مخته و، هغه خو لا د قرآن کریم حافظ و، د لمانځه په اراده پورته شوم، په جاینماز ودرېدم خو چې نیت به مې وتاړه د صلاح الدین د تلو هجران به په سلګو کړم، د صلاح الدین څهره به مې بیا سترګو ته ودرېده، ما پخوا د فدایانو ویډیوګانې لیدلی وې، چې نور ملګري قطار ولاړ وي، او دوی رخصتي اخلي، ما به هم په خیال کې صلاح الدین ته خدای پاماني ورکوله، او ده پر اوږه ټینګ کړم، ناڅاپه مې سلګیو بیا زور واخیست، او په چغو چغو مې ښه ځان سترې کړ، په ټول ژوند مې دومره نه وو ژړلي، ساعت ته مې وکتل یوې ته څو دقیقې پاتې وې، له ځان سره مې وویل: دا څه ساده یې، که دې څوک پر دې نیمه شپه پر ژړا ووینې څه ګمان به کوي؟ ولاړم، پر یخو اوبو مې اودس ووکړ، لمونځ مې ادا کړ، ځکه چې سهار وختي لمانځه ته پورته کېدل او بیا مالونو ته واښه کول، ورپسې د مکتب تګ، دا هر څه پاته کېدل، نن شپه مې د خوب لپاره ښېل ځای جوړ کړ، داسې چې مخ مې قبلې خوا ته و، پر کتابونو کې مې لیدلي و، چې خوب پر سنت طریقه ډېر ثواب لري، او انسان له مصیبتونو څخه په امان وي، څراغ مې بند کړ، ځان مې د خوب نرۍ ته وسپاره، ټوله شپه له صلاح الدین سره په خبرو وم، یو وخت به را ویښ شوم، بالښت به مې اوښکو لوند کړی و، عجیبه له کیفیاتو ډکه شپه وه، یو ډول خوښي مې حس کوله، سهار ته نږدې مې خوب لیده چې صلاح الدین راته وایي: انسه! خدای پاماني ته خو لا وخت شته، مه خفه کېږه.

سهار ته لا وخت پاتې و، چې را ویښ شوم، خوب مې پوره تښتېدلی و، زه له بې خوبۍ سره هیڅ نه وم عادت، خو دا ځل کیسه بیخي بېله وه، د تهجدو په بهانه مې اودس وکړ، د سهار تر لمانځه مې ځان پر تلاوت مصروف کړ، لمانځه ته لا لس دقیقې پاتې وې، پلار مې را غږ کړ: انسه! راځه چې جمعه تېرېږي.

ورښکته شوم، پلار به مې د کندهارۍ خولۍ پر سر سپین پټکی تړلو، پر ونه ښه پوره دنګ و، د سهار له مخې به چې جومات ته روان و نو به یې د استغفار ذکر ډېر کاوو، ډېر نه غږېده، همېش به آرام و، پلار به مې چې ناست و مونږ یې تر مخ د خبرو جرأت نه درلود، رښتیا هم پلار لوی نعمت دی، د پلار لاسونه د اولادونو پر سر له هیڅ قوت سره د مقایسې وړ نه دي، ما به یې چې قدمونه تعقیبول سم به سترې شوم، یوازې پر مونږ نه بلکې د کلي پر ټولو ماشومانو مشفق و، هر یو ته به یې په سبقونو کې د کوښښ ویل، ویل به یې: بچیانو! سبقونه ووایئ، چې لوی شئ له خوارۍ او مزدورۍ به خلاص شئ. زه او پلار مې جومات ته ورسېدلو، پلار به مې په ملا امام پسې شاته درېده، اقامت شروع شو، ملا صیب تر تکبیر وروسته سورة فاتحه ورپسې د سورة رحمن تلاوت شروع کړ، سورة رحمن د سهار پر وخت بیخي بل کیف لري، ته به وایې چې سرې د جنت په دوره وتلی وي، پر دوهم رکعت یې د سورة تبارک الذی سورت تلاوت کړل، تر لمانځه وروسته یې د دعاء لپاره لاسونه لپه کړل، زه لومړني صف کې د پلار ښي لور ته څلورم نفر وم، د ملا صیب پر ما سترګې ولوېدې، داسې ځیر غوندې شو، چې دعاء





خلاصه شوه، ملا صیب مې پلار ته ویل: چې مولانا! وضعه مو څنګه ده؟ پلار مې ویل: ملا صیب! الحمدللّٰه بیخي ښه یو، بیا یې ماته مخ راواړوو، ویل: انسه! نن د ماشومانو امتحان دی، له ما سره به کومک شې، چای به هم راسره وخورې، زړه مې ولوېده چې ملا صیب څنګه ستون کړی، تر دعاء وروسته یې کتل را یاد شول، پلار مو کور ته ولاړ، زه د ملا صیب سره پاتې شوم، ملا صیب په محراب کې کېناست، او زه یې کیڼ لور ته کېناستلم، ویل: انسه! بېګاه مو میلمانه مو درلودل؟ ما ویل: نه ملا صیب.

ویل: سترګې دې څنګه سرې دي؟ بې خوبي دې تیره کړې؟

په دعاء کې زما دربانديې پام و، سترګې دې له اوښکو را ډکې شوی، څه درشوي؟

ما ویل: هېڅ نه ملا صیب، هسې یو ملګری مې ناروغ دی، د هغه لپاره مې اندیښنه ده.

